غزني تخنيکي پوهنتون

د علمي څېړنو او مجلې معاونيت

د علمي مجلې آمريت

د علمي مجلې عمومي مديريت

# زرکشان انجنيري مطالعاتو علمي، څیړنیز ژورنال

لومړی کال، دوهمه(۲) ګڼه، ۱۴۰۵ل پسرلی، مطابق ۱۴۴۷ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# زرکشان

## د غزني تخنيکي پوهنتون علمي- څېړنيزه مجله

## مجله علمی- تحقیقی پوهنتون تخنیکی غزنی



### د ليکنې هيئت غړي/ اعضای هیئت تحریر

پوهنمل محمدنعیم سروري

پوهنمل سیدعدنان موسوی

پوهنمل دوست محمدسروری

پوهنیار محمدلطیف رحیمی

پوهنیار وحیدالله زغم

پوهنیار محمدحنیف رحیمی

پوهنیار محمد ضیا جمال

نوماند پوهنیار سلیمان احمدی

نوماند پوهنیار حاجی محمد همت



| د امتیاز خښتن | غزني تخنيکي پوهنتون |
|---|---|
| **مسؤل مدير** | پوهنمل اسدالله شاکر |
| **سردبير** | پوهندوی مسعود دانشمل |
| **د مجلې عمومي مدير** | خالداحمد احساس |
| **د مجلې د نشريي مدير** | رحمت الله ساجد |
| **ويب سايټ** | www.teug.edu.af |
| **ايميل** | research.gtu@teug.edu.af<br>info@teug.edu.af |
| **د اړيکو شمېرې** | ۰۷۰۰۰۵۵۷۸۸ / ۰۷۹۵۶۶۲۵۶۵ |
| **پته** | غزني تخنيکي پوهنتون، د علمي څېړنو او مجلې معاونيت |

## د غزني تخنیکي پوهنتون د علمي څېړنو او مجلې معاونیت پیغام

الحمدُ للهِ ربِّ العالمین، والصلاةُ والسلامُ علی سیِّدِنا محمدٍ، وعلی آلهِ وأصحابِه أجمعین.

**أمّا بعد:** قال اللهُ تعالی في محکمِ تنزیلِه إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ(سورة آل عمران: ۱۹۰)

په معاصر علمي نظام کې علمي ـ څېړنیزې مجلې د پوهې د تولید، پراختیا او معیاري کولو بنسټیز رول لري. دا مجلې نه یوازې د څېړنیزو موندنو د خپرولو اغېزمن میکانیزم ګڼل کېږي، بلکې د علمي تفکر د ودې، نوښت د پیاوړتیا او د علمي بنسټونو ترمنځ د اړیکو د ټینګښت مهمه وسیله هم ده.

د همدې ارزښتناک هدف په رڼا کې، د غزني تخنیکي پوهنتون د علمي څېړنو او مجلې معاونیت په خوښۍ سره د خپلې علمي مجلې **زرکشان د انجنیري مطالعاتو علمي او څېړنیز ژورنال** د دوهم ټوک د خپرېدو زېری له علمي ټولنې سره شریکوي. دا مجله چې په ۱۴۰۴ هـ ش کال کې یې د رسمي چاپ جواز تر لاسه کړی، نن د یاد ټوک په خپرېدو سره د علمي فعالیتونو راپېل شوي هڅې ته دوام ورکوي.

زرکشان د انجنیري مطالعاتو علمي څېړنیز ژورنال د انجنیري علومو او اړوندو تطبیقي څانګو په برخه کې د معیاري علمي مقالو د خپرولو لپاره رامنځته شوی، څو د هېواد د پوهنتونونو استادانو، څېړونکو، محصلینو او مسلکي څېړنیزو مرکزونو ته یو باوري علمي منبر برابر کړي. دا ژورنال هڅه کوي چې د ملي اړتیاوو، تخنیکي ستونزو او علمي نوښتونو ترمنځ علمي اړیکه رامنځته کړي او د نظري او تطبیقي څېړنو ترمنځ واټن راکم کړي.

د مقالې ارزونه په دې مجله کې د علمي امانت، بې‌طرفۍ او دقیقې علمي کره کتنې (Peer Review)پر اصولو ولاړه ده، څو خپرېدونکې لیکنې د کیفیت، نوښت او علمي ارزښت له پلوه د باور وړ وي. موږ باور لرو چې دا مجله به د څېړنیز کلتور د پیاوړتیا، د علمي تولید د زیاتوالي او د غزني تخنیکي پوهنتون د علمي اعتبار د لوړولو لپاره دوامداره اغېزمن ګامونه پورته کړي.

په پای کې، د علمي څېړنو او مجلې معاونیت د دې مجلې د دوهم ټوک د چاپ په بهیر کې د لوړو زده کړو قدرمن وزارت، د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست، د پوهنتون رهبري، د مجلې د مسؤل مدیر، د تحریر پلاوي، د علمي داورانو او ټولو هغو استادانو او څېړونکو څخه صمیمانه مننه کوي چې د خپلو ارزښتناکو علمي آثارو او همکارۍ له لارې یې د دې علمي ژورنال د ایښودل شوي بنسټ د محکم کولو او دوهم ټوک د خپرېدو زمینه برابره کړې ده. هیله ده چې « زرکشان د انجنیري مطالعاتو علمي څېړنیز ژورنال» د علم، څېړنې او تخنیکي پرمختګ په لاره کې دوامداره بریاوې خپلې کړي او د هېواد د علمي او تخنیکي ودې لپاره اغېزمن خدمت ترسره کړي والسلام...

**پوهنیار ذبیح الله عابد**

**د غزني تخنیکي پوهنتون د علمي څېړنو او مجلې معاونیت مرستیال**

## د مطالبو لړلیک


| ګڼه | د مقالې عنوان | لیکوال / لیکوالان | صفحې |
|---|---|---|---|
| ١ | په غزني ولایت کې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو تر منځ تخنیکي او اقتصادي ارزونه | پوهنمل دوست محمد سروری، پوهنیار محمد یاسین کمالی، پوهنیار محمد عادل عدیل، نوماندپوهنیار عتیق الله حمیم، نوماندپوهنیارمحمد صدیق نظری | ٢-٢٨ |
| ٢ | د لمریزو فوتوولتائیک حجرو د نسلونو مقایسوي څېړنه او د پرمختګ بهیر | فدامحمدمحمدي، رحمت الله لیوال او حمیدالله هوډیال | ٣٠-٥٧ |
| ٣ | حل معادلات دیفرانسیل کسری از نوع مشتق کاجوګامپولا، با استفاده از روش تکرار تغییرات بهبود یافته | عباس پویا، محمدعلی زیرک، سید عدنان موسوی | ٥٩-٧٨ |
| 4 | Economic and Environmental Optimization of Ghazni's Electricity Distribution Network Using Low-Loss Transformers | Massoud Danishmal, M. Yasin Kamaly, Dost Mohammad Sarwari, Atiqullah Hamim & Mohammad Adeel Adeel | 80-92 |
| 5 | Long-term forecasting of residential electric load for the Wazirabad area of Kabul city | Atiqullah Hamim, Amin Gul Hanif, Fazal Hamid Habibi &Massoud Danishmal | 94-103 |
| 6 | Energy Assessment and Economic Evaluation of Fixed-Tilt and Tracking Solar Photovoltaic Systems for Enhanced Energy Yield and Cost-Effectiveness | Wahidullah Zgham, Massoud Danishmal, Samiullah Popal, Dost Mohammad Sarwary, | 105-123 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | Khalilullah Haqfal, Zarbat Shah Ulfat | | |
| 125-134 | *Samiullah Popal, Asadullah Shakir, Wahidullah Zgham, Haji Mohammad Hemat. Nik Mohammad Rishten & Shear Ahmed Atif* | Optimizing Energy Efficiency in Residential Buildings: A Comprehensive Analysis of Heating and Cooling Loads Using HAP Software in Ghazni, Afghanistan | 7 |

# په غزني ولایت کې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو تر منځ تخنیکي او اقتصادي ارزونه

پوهنمل دوست محمد سروری [1*]، پوهنیار محمد یاسین کمالی [1]، پوهنیار محمد عادل عدیل [1]، نوماندپوهنیار عتیق الله حمیم [1]، نوماند پوهنیار محمد صدیق نظری [2]

۱. برېښنا انجنیري څانګه، الکترومیخانیک پوهنځی، غزني تخنیکي پوهنتون

۲ . برېښنا انجنیري څانګه، انجنیري پوهنځی، دعوت پوهنتون

د مسئول ایمیل آدرس: dostmsarwari@gmail.com

---

## لنډیز

دا څېړنه د غزني ولایت په مرکزي سیمې (قلعه جوز) کې ترسره شوې، څو د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو تخنیکي او اقتصادي پرتلنه وکړي. غزني ولایت د برېښنا له کمښت او ټیټ کیفیت رسوني سره مخ دی، نو د پاکو او نوې کیدونکو سرچینو کارول د انرژۍ خپلواکۍ، چاپېریال ساتنې او اقتصادي ودې لپاره مهم دي. په دې څېړنه کې دواړه سیستمونه د ۵۰۰ کیلوواټه ظرفیت سره ډیزاین شوي دي. د دغه سیستمونو تحلیل د HOMER Pro او PV syst سافټویرونو په وسیله ترسره شوې، چې پکې اقلیمي معلومات، تولید، لګښتونه، عواید او د پانګې بېرته ترلاسه کولو موده ارزول شوې ده. پایلې ښیي چې سولر فوتوولتائیک سیستم په کال کې ۲۲۱۶ ساعته کار کوي، ۴۵۷ کیلوواټه تولیدي طاقت لري او ۱۰۵۲۸۰۰ کیلوواټ-ساعت برېښنا تولیدوي. لومړنی لګښت یې ۹.٦۷۸ میلیونه افغانۍ، کلنی لګښت ۰.۸ میلیونه افغانۍ او عواید ۴.۴٦۴ میلیونه افغانۍ دي. بادي سیستم په کال کې ٦٦۸۷ ساعته کار کوي، ۱۷۳ کیلوواټه طاقت تولیدوي او ۱۵۱۹۵۰۴ کیلوواټ-ساعت برېښنا تولیدوي، لومړنی لګښت ۴۹.۷۵ میلیونه افغانۍ، کلنی لګښت ۲ میلیونه افغانۍ او عواید ۵.۵۹۷۵ میلیونه افغانۍ دی. سره له دې چې بادي سیستم زیات تولید لري، د هر کیلوواټ-ساعت لګښت یې لوړ ،چې د سولر فوتوولتائیک سیستم ۱.۱۳ افغانۍ او د بادي ۳.۲۹ افغانۍ دی. د سرمایې بېرته ترلاسه کولو موده د سولر فوتوولتائیک سیستم لپاره ۲.۲ کاله او د بادي لپاره ۸.۹ کاله ده. په همدې اساس، سولر فوتوولتائیک سیستم د دوامدارې انرژۍ د تأمین لپاره یو مناسب او اغېزمن انتخاب ګڼل کېږي.

***کلیدي کلمې:*** *اقتصادي ارزونه، بادي انرژي، تخنیکي ارزونه، غزني ولایت، لمریزه انرژي*

## ۱. سریزه

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی اشرف الانبیا والمرسلین سیدنا محمد و علی اله و اصحابه اجمعین.

د نوي کیدونکې انرژي اصطلاح د انرژي هغه سرچینو ته کارول کیږي چې په طبیعت کې په دوامدار ډول شتون لري او د وخت په تېرېدو سره نه ختمېږي، یا هغه انرژي ته وایي چې د فعالیت له کبله یې ګلخانه‌یي ګازونه نه خپرېږي. په تېرو څو لسیزو کې، د انرژۍ اړتیاوې په نړۍ کې په پراخه کچه زیاتې شوې ده او د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نوې او پایدارې سرچینې اړینې ګڼل کیږي. د نوي کېدونکې انرژي کارونه په نړیواله کچه د چاپېریال ساتنې او اقتصادي ثبات لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي. د ډېرو هېوادونو په څېر، په افغانستان کې هم د نوي کېدونکې انرژي سرچینو لکه لمریزه انرژي، بادي انرژي او هایډروپاور ته زیاته پاملرنه نه ده شوې. له اقتصادي پلوه، د نوي کېدونکې انرژي پروژې د کار فرصتونه رامنځ ته کوي او د انرژي لګښتونه کموي. د ځینو څېړنو له مخې، د نوي کېدونکې انرژي کارونه د سوداګریزو او صنعتي فعالیتونو لپاره د انرژي د لګښتونو د کمېدو او د تولید د ودې سبب ګرځي. همداراز، ډېرې مطالعې ښیي چې د نوي کېدونکې انرژي کارونه د فوسیلي سونګ توکو د کارونې په پرتله د چاپېریال د ککړتیا د کمېدو لامل کېږي. د بېلګې په توګه، د سولر فوتوولتائیک انرژي کارول د کاربن ډای‌اکساید د تولید مخنیوی کوي او د هوا د ککړتیا کمښت رامنځته کوي. په اوسني وخت کې، په نړیواله کچه د انرژي تقاضا په بې ساري کچه زیاته شوې، خو له دې سره سره، د فوسیلي سونګ توکو سرچینې د کمېدو په حال کې دي. له همدې امله، د نوي کېدونکو انرژیو لکه بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو اهمیت ډېر شوی دی (ثقفی، ۱۴۰۱).

افغانستان، چې پراخې طبیعي سرچینې لري، د انرژي د بدیل سرچینو لکه بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو د تولید ښه ظرفیت لري، نو اړتیا ده چې پر دغو سرچینو تمرکز وشي. غزني ولایت د افغانستان په جنوب کې، د ۳۳ درجې، ۳۳ دقیقې او ۱۰.۴ ثانیې شمالي عرض البلد او ۶۸ درجې، ۲۷ دقیقې او ۳۳ ثانیې ختیځ طول البلد کې موقعیت لري. د دې ولایت مساحت شاوخوا ۲۲۹۱۵ کیلومتره مربع ددی. د ۲۰۲۰ میلادي کال د اټکل له مخې، د غزني ولایت نفوس شاوخوا ۱۳۶۲۵۶۴ تنه دی، چې د نفوس په لحاظ د افغانستان پنځم پرنفوسه ولایت دی(Zgham et al., 2024). غزني ولایت د انرژی له ځانګړې وضعیت څخه برخمن مګر د برېښنا د کمښت له جدي ننګونو سره مخ دی. د دې ولایت په استوګنیزو او سوداګریزو برخو کې د شبکې برېښنا ډېره محدوده ده. له همدې امله، غزني چې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو لپاره مناسب جغرافیایې او اقلیمي شرایط لري، د انرژي د نوې پراختیا لپاره یو مهم ولایت ګڼل کېږي (Zgham et al., 2024).

د غزني ولایت لپاره دا څېړنه د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو تخنیکي او اقتصادي تحلیل کوي، تر څو د دغو انرژیو ظرفیت وارزوي او د پایدارې انرژۍ مناسب انتخاب وړاندې کړي. دا تحلیل نه یوازې د انرژۍ د تولید د پراختیا لپاره مهم دی، بلکې د اقتصادي ودې، د کارموندنې او د چاپېریال ساتنې لپاره هم ارزښت لري. په پایله کې، په دې څېړنه کې هڅه کیږي چې د انرژۍ د اړتیاوو پوره کولو لپاره عملي او علمي وړاندیزونه وړاندې شي.

## ۲. د څېړنې مخینه

د غزني ولایت په ګډون، افغانستان د برېښنا له کمښت او د انرژۍ د ټیټ کیفیت له ستونزو سره مخ دی، چې دغه موضوع د بدیلو او دوامدارو انرژیو اړتیا لا زیاته کړې ده. په تېرو کلونو کې، په نړیواله کچه ګڼو څېړنو ښودلې چې لمریزه او بادي انرژۍ د فوسیلي سونګ توکو پر ځای اغېزمن، اقتصادي او چاپېریال ته دوستانه بدیلونه دي. د بېلابېلو هېوادونو تجربې څرګندوي چې که څه هم د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو تخنیکي او اقتصادي پایلې د اقلیمي شرایطو له مخې توپیر لري، خو ډېری وخت لمریزه انرژۍ د لګښت، ساتنې او دوام له پلوه غوره تمامېږي.

په افغانستان او په ځانګړې ډول په غزني ولایت کې، د لمر لوړې وړانګې او مناسب اقلیم د سولر فوتوولتائیک انرژۍ لپاره ښه فرصت برابروي، په داسې حال کې چې بادي انرژۍ هم په ځینو سیمو کې د پام وړ د تولید ظرفیت لري. له همدې امله، د دغو دواړو انرژیو تخنیکي او اقتصادي ارزونه اړینه ده، تر څو د سیمې لپاره تر ټولو مناسب، اقتصادي او پایداره سیستم وټاکل شي.

## ۳. مخکنیو څېړنو کتنه

د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو په برخه کې د تیرو اثارو تفصیلي کتنه د دې لپاره اړینه ده چې د دې انرژیو تخنیکي ځانګړتیاوې، اقتصادي ګټې او د هغوی د کارونې ستونزې په مختلفو جغرافیایي، اقلیمي او ټولنیزو شرایطو کې په بشپړ ډول وڅېړل شي. په دې برخه کې باید هغو مهمو څېړنو، علمي مقالو، تخنیکي راپورونو، او د انرژۍ د نړیوالو سازمانونو د اسنادو کتنه شوې چې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو د تولید ظرفیت، د پانګونې لګښتونه، د انرژۍ د ترلاسه کولو مؤثریت او د چاپیریال پر اغیزو تمرکز کوي .

په یوه څېړنه کې، چې تمرکز یې د عراق د تکریت ښار د یوې کوچنۍ کورنۍ د اړتیا وړ برېښنا د برابرولو لپاره د ۳ کیلوواټ ساعت سولر فوتوولتائیک انرژۍ او ۳ کیلوواټ ساعت بادي انرژۍ له لارې د برېښنا تولید سیستمونو د اټکلي خالص لګښت او موثریت پر محاسبه او تحلیل شوی وو او د دواړو پایلو پرتله د

HOMER سافټویر په مرسته تر سره شوې ده. پایلو وښودله چې د ۳ کیلوواټه سولر فوتوولتائیک سیستم د نصب خالص لګښت شاوخوا ۱۴۷۹۲ امریکایي ډالره دی، په داسې حال کې چې د بادي سیستم خالص لګښت شاوخوا ۷۳۴۰ امریکایي ډالره دی. پرتله شوې پایلې ښیي چې لمریزه انرژي د بادي انرژي په پرتله د عملي کارونې لپاره اغېزمنه او باوري سرچینه ده اما د سولر فوتوولتائیک سیستم د نصب لګښت د بادي سیستم په پرتله لوړ دی(Mohammed et al., 2019).

په یوه بله څېړنه کې چې د DOE (ډیزاین د تجربو) تحلیل ته ځانګړې شوې وه، څرګنده شوې چې د بادي انرژي د تولید ظرفیت او مؤثر تطبیق په یوه ښه بادي منبع پورې تړلی ده. همدا راز، د سولر فوتوولتائیک سیستم لپاره هم دا موضوع صادقه ده، خو پکې د پیل پانګونه هم اغېزناک فکتور بلل شوې. خو په پای کې تحلیل ښیي چې سولر فوتوولتائیک سیستمونه له مالي پلوه د بادي سیستمونو په پرتله ډېر مناسب دي، حتی په هغو کلیوالو سیمو کې هم چې د باد منبع نسبتاً ښه وي(Sunderland et al., 2018) .

په یوه څېړنه کې چې په نیپال کې تر سره شوې، د سولر فوتوولتائیک او بادي انرژیو د ظرفیت، جغرافیایي او اقتصادي په اساس تحلیل شوی دی، پایلې ښیي چې د لګښت له پلوه د سولر فوتوولتائیک سیستم د بادي سیستم په پرتله قیمت(ګران) دي، خو د بادي انرژي لپاره مناسب ځایونه محدود دي او زیاتره یې په لوړو غرنیو سیمو کې موجود دي(Neupane et al., 2022).

په یوه څېړنه کې د اقتصادي فعالیت د تحلیل پر بنسټ تر سره شوې، له څېړنې څخه دا ثابته شوې چې د چین د هوونان ولایت لپاره د سولر فوتوولتائیک او بادي انرژیو د برېښنا د تولید لګښتونه په ترتیب سره ۰.۵ او ۰.۳۵ چینایي یوانه/ فی کیلوواټ ساعت دي (Liu et al., 2018).

## ۴. د څېړنې کړنلاره او مواد

### ۴-۱- د څېړنې کړنلاره

د دې څېړنې موخه دا ده چې په غزني ولایت کې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو ترمنځ تخنیکي او اقتصادي ارزونه ترسره شي. د څېړنې د لاسته راوړنو لپاره اړینه ده چې یوه منظمه او علمي تګلاره تعقیب شي. د څېړنې تګلاره له بېلابېلو پړاوونو څخه جوړه شوېده چې په لاندې ډول یې وضاحت شوی دی:

د څېړنې لومړی مرحله د ساحې ټاکل دي، د ساحې ټاکنه د څېړنې د اړتیاوو او شرایطو پر بنسټ ترسره شوې، چې پکې د غزني ولایت هغه ساحه په پام کې نیول شوې ده چې د سولر فوتوولتائیک او بادي انرژیو د تولید لپاره مناسب د تولید ظرفیت لري.

وروسته له دې، د معلوماتو راټولولو مرحله ده، معلومات دوه ډولونه لري: لومړني او ثانوي معلومات. لومړني معلومات د ساحې د موقعیت، د انرژي سرچینو د انتخاب، د سولر فوتوولټائیک او بادي انرژیو د تولید ظرفیت او د چاپېریال شرایطو په اړه دي، چې دا معلومات له ځايي ادارو، فزیکي سروې، او معتبرو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي. ثانوي معلومات بیا له کتابونو، علمي مقالو او انټرنیټي سرچینو څخه اخیستل شوي دي، څو د څېړنې د اعتبار کچه لوړه شي.

د راټول شوو معلوماتو د تحلیل لپاره د PVsyst او HOMER سافټویرونه کارول شوي دي، چې د دغو سافټویرونو په وسیله تخنیکي او اقتصادي تحلیل ترسره شوی، چې پکې د سیستمونو د تولید ظرفیت، لګښت، ساتنې اړتیا، او د پانګونې راګرځېدو موده شاملې دي.

په پای کې، د ټولو تحلیلونو پایلې ارزول شوې او د بادي او سولر فوتوولټائیک انرژیو ترمنځ د مقایسې نتیجه ترلاسه شوې. دغه پایلې د څېړنې په پایله کې بیان شوي او پر بنسټ یې وړاندیزونه وړاندې شوي دي. نو، دا څېړنه یوه منظمه تګلاره تعقیبوي چې د ساحې له ټاکلو نیولې تر تحلیل، پایلو او وړاندیزونو پورې، ټول پړاوونه پکې په علمي ډول واضح شوي دي، لکه څرنګه چې په(۱) شکل کې ښودل شوي دي.




شکل(۱): د څېړنې کړنلاره

## ۴-۲- د څیړنې مواد

### ۴-۲-۱- د ساحې انتخاب

په (۲) شکل کې د دغې څیړنې لپاره د غزني ولایت په مرکز کې د قلعه جوز سیمه انتخاب شوې، یاده ساحه د غزني ولایت په مرکز کې په ۳۳.۵۵ درجې شمالي عرض البلد او ۶۸.۴۶ درجې ختیځ طول البلد کې موقعیت لري.



شکل(۲): د غزني ولایت د قلعه جوز ساحې موقعیت (Pvsyst)

### ۴-۲-۲- د غزني ولایت موسمي شرایط

په غزني ولایت کې اوړی ګرم، وچ او روښانه وي، پداسې حال کې چې ژمی سوړ او د واورې اورښت متوسط وي. د کال په اوږدو کې د تودوخې درجه معمولا د ‎-5°C‎ څخه تر ‎33 ° C‎ پورې بدلون کوي او ډېر کم وختونه له ‎-11°C‎ څخه ټیټه یا له ‎36 °C‎ څخه لوړه وي (Weather Spark).

### ۴-۲-۳- په غزني ولایت کې د ورځو اوږدوالی او د لمر شتون

په (۳) شکل کې لیدل کیږي د ورځې اوږدوالی هم د کال په اوږدو کې تغیر کوي تر ټولو لنډه ورځ د دسمبرمیاشتې ۴ ده، چې ۹ ساعته او ۵۶ دقیقې روښنایي لري. تر ټولو اوږده ورځ د جون میاشتې ۲۹ ده، چې ۱۴ ساعته او ۲۳ دقیقې روښنایي لري (Weather Spark).




شکل(۳): په غزني ولایت کې د ورځو اوږدوالی او د لمر شتون (Weather Spark)

## ۴-۲-۴- په غزني ولایت کې د لمر وړانګې او د سولر فوتوولتائيک انرژي د تولید ظرفیت

غزني د خپل موقعیت له امله یو نیمه بیاباني اقلیم لري چې په دې اقلیم کې لمر په مختلفو فصلونو کې په مختلفو ډولونو کې څرګندیږي. څرنګه په (۴) شکل کې لیدل کیږي د لمر شدت د کال په مختلفو میاشتو کې تغییر کوي (Weather Spark).




شکل(۴): په غزني ولایت کې د هر متر مربع لپاره د ورځې منځنی لنډې وړانګې انرژي اندازه (Weather Spark)

## ۴-۲-۵- په غزني ولايت کې د لمر د تګلارې يا حرکت دياګرام

په (۵) شکل کې د لمر د تګلارې يا حرکت دياګرام ښودل شوي، دغه دياګرام د لمر موقعيت د کال په هره مياشت کې راښيي. د دې دياګرام په واسطه د لمر ختلو او لمر لوېدلو وخت د کال په مختلفو وختونو کې معلومولای شو او د ورځې په جريان کې کولای شو د سولر فوتوولتائيک د قطارونو ترمنځ فاصله پيداکړو تر څو يو قطار پر بل باندې سيوری ونه کړي، د لمر د دياګرام څخه د لمر د ارتفاع زاويه (Altitude Angle)او (Azimuth Angle) زاويه مستقيماً په مشخص وخت او ورځ کې پيدا کولای شو (Rahime et al., 2024).




شکل(۵): په غزني ولايت کې د لمر حرکت (Rahime et al., 2024.)

## ۴-۲-۶- په غزني ولايت کې د باد شدت او دبادي انرژي د توليد ظرفيت

غزني $km^2$ ۹۳ د باد انرژي سيمه لري، چې MW ۱۹۱ د بادي برېښنا توليد وړتيا لري، او د MW ۴۸ عملي باد انرژي توليد ظرفيت لري (Rahime et al., 2024).

څرنګه چې په (۶) شکل کې ليدل کيږي د غزني ولايت کې د باد سرعتونه د کال له موسمونو سره بدلون کوي. د ژمي او پسرلي په مياشتو کې (په ځانګړي ډول له جنوري تر جون پورې) بادونه زيات شدت لري، او تر ټولو بادلرونکې مياشت مارچ ده چې منځنی سرعت يې m/s ۳.۶ ته رسيږي. برعکس، د اوړي په مياشتو کې بادونه کمزوري وي او باد سرعت له پلوه تر ټولو آرامه مياشت د اګست ده چې باد منځنی سرعت يې

۲.٦ m/s دی. په عمومي ډول، باد لرونکې دوره شاوخوا ۴.۷ مياشتې او آرامه دوره ۷.۳ مياشتې دوام لري. (Weather Spark).




شکل(٦): په غزني ولايت کې د باد سرعت په مختلفو وختونو کې

## ۴-۳- د معلوماتو تحليل او د سيستمونو ډيزاين

د نوې کېدونکو انرژيو د پروژو په تحليل، طرحه او ارزونه کې سافټويرونه مهم رول لري. په ځانګړي ډول PVsyst او HOMER Pro هغه مشهور تخنيکي سافټويرونه دي، چې د سولر او بادي سيستمونو د ډيزاين، فعاليت تحليل او اقتصادي ارزونې لپاره کارول کېږي. PVsyst زياتره د مختلفو سولر فوتوولټائيک سيستمونو (On-grid، Off-grid او د اوبو را ايستلو) د ډيزاين لپاره کاريږي، په داسې حال کې چې HOMER Pro د هايبرډ انرژي سيستمونو (لمريز، بادي، ډيزلي او بيټرۍ) د تحليل او مقايسې ورتيا لري. دا دواړه سافټويرونه په نړيواله کچه د څېړنو او عملي پروژو لپاره ډېر مهم بلل کېږي.

### ۴-۳-۱- د سولر فوتوولټائيک سيستم د ډيزاين تخنيکي تحليل

#### *۴-۳-۱-۱ سولر فوتوولټائيک پنلونو انتخاب*

د دې لپاره چې د سولر فوتوولټائيک سيستم ثابت ناصبه طاقت ۵۰۰ کيلوواټ دی او د سيستم لپاره مو ۵۸۰ واټ مونو-کريسټالين سولر فوتوولټائيک پنل انتخاب کړی، ځکه چې د غزني لپاره مونو-کريسټالين سولر فوتوولټائيک پنلونه د پولی-کريسټالين سولر فوتوولټائيک پنلونه په پرتله زياته انرژي توليدوي او لوړ د فعاليت نسبت (PR) لري نو د غزني اقليمي شرايطو ته په کتو، د اقتصادي، لوړ د انرژي توليد او ښه فعاليت لرونکي سولر فوتوولټائيک سولر فوتوولټائيک پنلونه د نصب او ډيزاين لپاره بايد د مونو-کريسټالين سولر فوتوولټائيک پنلونه غوره شي (Zgham et al., 2024).

نو د سولر فوتوولتائيک  پنلونو شمير د (۱) فورمول په مرسته محاسبه کيږي:

$$\text{Number of solar panels} = \frac{system\ power}{per\ solar\ panel\ power} \quad (۱)$$

$$system\ power = 500kw = 500000w$$

$$\text{Number of solar panels} = \frac{500000}{580} = 662$$

د دغه سیستم لپاره ۸٦۲ سولر فوتوولتائیک پنلونه چې د مونو-کریستالین له نوعو څخه دي انتخابوو او ځانګړتیاوې یې په (۱) جدول کې ښودل شوي دي.

جدول(۱). د سولر فوتوولتائيک  پنل ځانګړتیاوې

| ځانګړتیاوې | څرګندونې |
|---|---|
| کمپنی | Jinko solar |
| موډل | JKM۵۸۰M-۷RL۴-V |
| طاقت | ۵۸۰W |
| خلاص سرکېټ ولتېج | ۵۳.۳۱V |
| اعظمي ولتېج | ۴۴.۱۱V |
| شارټ سرکېټ جریان | ۱۳.۸۳ A |
| اعظمي جریان | ۱۳.۱۵ A |
| مؤثریت | ۲۱.۲۲٪ |
| د موډل مساحت | ۲.۷۳۴m2 |

### *۴-۳-۱-۲ د اینورټر انتخاب:*

د دې لپاره چې د سیستم تولیدي طاقت ۵۰۰ کیلوواټ دی، خو یوه اندازه طاقت د تودوخی او په سولر فوتوولتائیک و باندې د پرتو دوړو له امله ضایع کیږي چې له دې سره د سیستم تولیدي طاقت شاوخوا ۴۵۷ کیلو واټ ته راکمیږي. اینورټر باید د سیستم د تولیدي طاقت څخه د (۱۰- ۱۵) سلنه زیات طاقت لپاره انتخاب شي چې دې ته حفاظتي فکتور (Safety Factor) ویل کیږي. د دغه فکتور ۱۰٪ په نظر کې نیولو سره طاقت ۵۰۲ کیلوواټ کیږي، چې نوموړي طاقت ته اینورټر انتخابیږي. د دغه سیستم لپاره د Growatt ( New Energy) کمپنی پنځه داني ۱۰۰ کیلوواټ طاقت لرونکي اینورټرونه انتخاب شوي دي، چې ځانګړتیاوې یې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

جدول(۲). د انتخاب شوي انورټر ځانګړتياوې

| ځانګړتياوې | ځرګندونې |
|---|---|
| کمپنی | Growatt New Energy |
| مودل | MAX ۱۰۰KTL۳-X LV |
| طاقت | ۱۰۰ KW (Ac) |
| ورودي MPPT | ۱۰ |
| ولتاژ رينج DC | ۱۸۰-۱۰۰۰ ولت |
| اعظمی DC انپټ ولتا ژ | ۱۱۰۰ V |
| خروجی AC ولتاژ | ۳ فاز ۴۰۰ ولټ |
| مؤثريت | ۹۸.۸٪ |

### ۴-۳-۱-۳ د ډيزاين شوي سولر فوتوولتائيک سيستم ځانګړتياوې

په لاندې جدول کې د سيستم، د سولر فوتوولتائيک پنلونو او د اينورټر ځانګرتياوې ذکر شوي دي.

جدول(۳). د سولر فوتوولتائيک سيستم ځانګرتياوې

| د سيستم ځانګرتياوې | د سيستم ځرګندونې |
|---|---|
| د سيستم طاقت | ۵۰۰KW |
| د سيستم ولتيج (DC) | ۷۹۴ V |
| د سيستم ولتيج (AC) | ۴۰۰ V |
| د سيستم جريان (DC) | ٦٦۴ A |
| د سيستم جريان (AC) | ۲۷۵ A |
| په هر kWp طاقت باندې توليد شوي انرژي | ۵.۷٦ KWh |
| د سولر فوتوولتائيک و د نصب زاويه | ۳۴° / ۱۸۰° |
| د سولر فوتوولتائيک هندارو شمېر | ۸٦۲ |
| د سولر فوتوولتائيک هندارې طاقت | ۵۸۰ |
| د سيستم د نصب ساحه | ۲۲۳۳ m2 |
| د سولر فوتوولتائيک هندارې اعظمي ولتېج | ۴۲.۴۱ V |
| د سولر فوتوولتائيک هندارې مؤثريت | ۲۱.۲۲ ٪ |
| د اينوټر طاقت | ۱۰۰ KW (ac) |
| د اينورټرونو تعداد | ۵ |
| د اينورټر ورودي ولتېج | ۱۸۰ -۱۰۰۰ V |
| د اينورټر مؤثريت | ۹۸.۸ ٪ |
| کلنی توليد شوي انرژي | ۱۰۵۳۰۰۰ kWh |
| د سيستم عمر | ۲۵ کاله |

## ۴-۳-۲- د سولر فوتوولتائیک سیستم د ډیزاین اقتصادي تحلیل

### ۴-۳-۲-۱ د سیستم مجموعي لګښتونه

د سیستم مجموعي لګښتونه په (۴) جدول کې ښودل شوي دي او په سیستم کې د ټولو موجوده وسایلو د في واحد قیمت او مجموعي قیمتونه تشریح شوي دي. له دې ډلې څخه، سولر فوتوولتائیک پنلونه چې ټول شمېر یې ۸٦۴ دانې دي، د هر یوه قیمت ۴۵۰۰ افغانۍ دی، نو مجموعي قیمت یې ۳.۸۸۸ میلیونه افغانۍ کېږي. د سولر فوتوولتائیک پنلونو لپاره د چوکاټونو مجموعي قیمت ۱.۰۳٦۸ میلیونه افغانۍ دی. انورټرونه پنځه دانې دي، چې د هر یوه قیمت ۰.۵ میلیونه افغانۍ دی، نو مجموعي قیمت یې ۲.۵ میلیونه افغانۍ کېږي. همدارنګه، د نورو اړوندو وسایلو لکه کیبلونو، کمباینر بکسونو، قطع کوونکو او د سیستم نورو مهمو وسایلو شمېر او قیمتونه هم ښودل شوي دي. دغه راز، د وسایلو د انتقال، نصب او ځای پر ځای کولو مصارف هم واضح شوي دي. د پروژې مجموعي ابتدایي لګښت ۹.٦۱۷۸۰۰ میلیونه افغانۍ دی، چې د سیستم د ټولو وسایلو اخیستل، ترانسپورت او نصب پکې شامل دي. د یاد سیستم ارزښت به د ۲۵ کلونو په موده کې ۷.۴۲۴۸ میلیونه افغانۍ ته راکم شي.

په سولر فوتوولتائیک سیستمونو کې د نصب لګښتونه د ټول لګښت (۱۲-۱۴)٪ په نظر کې نیول کیږي (Renewable & Agency, 2019).

جدول(۴). د سولر فوتوولتائیک سیستم مجموعي لومړني لګښتونه

| ګڼه | تجهیزات | تعداد | فی واحد قیمت (افغانی) | کُلی قیمت (افغانی) |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سولر فوتوولتائیک پنل | ۸٦۴ | ۴۵۰۰ | ۳۸۸۸۰۰۰ |
| ۲ | د پنلونو چوکاټ | ۸٦۴ | ۱۲۰۰ | ۱۰۳٦۰۰۰ |
| ۳ | اینورټر | ۵ | ۵۰۰۰۰۰ | ۲۵۰۰۰۰۰ |
| ۴ | کیبل | ۴۰۰ | ۵۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |
| ۵ | کمباینر بکس | ۸ | ۱۰۰۰۰ | ۸۰۰۰۰ |
| ٦ | مونیټرنګ سیستم | ۱ | ۱۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰ |
| ۷ | AC قطع کوونکي | ۵ | ۷۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ |
| ۸ | DC قطع کوونکي | ۸ | ۳۵۰۰ | ۲۸۰۰۰ |
| ۹ | نور وسایل | ۱ | ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |
| ۱۰ | ترانسپورت | ۱ | ۴۰۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰۰ |
| ۱۱ | د سیستم د نصب مصارف | ۱ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۱۱۵۵۰۰۰ |
| | جمله | | | ۹٦۱۷۸۰۰ |

### ۴-۳-۳- د بادي سیستم د ډیزاین تخنیکي تحلیل

د نوموړي سیستم تخنیکي تحلیل په لاندې ډول ترسره شوی ده:

#### ۴-۳-۳-۱ په انتخاب شوې ساحه کې د باد سرعت

په ټاکل شوې ساحه کې د باد منځنی سرعت د ۵۰ مترو لوړوالي لپاره د هومر سافټویر په مرسته او د ناسا سپوږمکۍ له معلوماتو څخه ترلاسه شوي دي.

#### ۴-۳-۳-۲ بادي توربین انتخاب

د یو بادي برېښنا تولیدي فابریکې (Wind Power Plant) ډیزاین کې یوه مهمه مسئله دا ده چې د ټاکل شوې ساحې د شرایطو مطابق مؤثر بادي توربینونه وټاکل شي. د بادي توربینونو د تولید ظرفیت د باد د سرعت له مکعب سره تناسب لري، یعنې هر څومره چې د باد سرعت زیات شي، د توربین برېښنا تولید هم څو چنده زیاتیږي. همداراز، د باد سرعت معمولاً د لوړوالي په زیاتوالي سره لوړیږي، نو ځکه باید توربینونه د لوړوالي سره سم مناسب انتخاب شي. په غزني ولایت کې د باد منځنی سرعت نسبتاً کم دی، او د لوړ ظرفیت توربینونو انتقال او نصب ستونزمن دی. له همدې امله، په دې ساحه کې ټیټ ظرفیت توربینونه مؤثر ګڼل کیږي. له همدې امله، په دې سیستم کې د kW ۲۰ ظرفیت لرونکي بادي توربینونه کارول کیږي. د یادو توربینونو تخنیکي ځانګړتیاوې په لاندې (۵) جدول کې دې کې ذکر شوي دي.

جدول(۵). د انتخاب شوي بادي توربین ځانګړتیاوې

| شماره | مشخصه | څرګندونې |
|---|---|---|
| ۱ | کمپنی | Eocycle |
| ۲ | ماډل | ۲۰EO |
| ۳ | ډول | ۳ blades, horizontal axis, downwind |
| ۴ | طاقت | ۲۰ kW @ ۷.٦ m/s |
| ۵ | د طاقت کنترول | Stall control (Constant speed) |
| ٦ | د روتور قطر | ۱۵.۸ m |
| ۷ | د باد سرعت Cut-in | ۲.۷۵ m/s |
| ۸ | د باد سرعت Cut-out | ۲۰ m/s |
| ۹ | Maximum ډیزاین | ۵۲.۵ m/s |
| ۱۰ | د روتور سرعت | ۵۳ rpm |
| ۱۱ | د توربین مجموعي وزن | ۲۵۰۰ kg |
| ۱۲ | د جنراتور ډول | Synchronous Permanent Magnet |
| ۱۳ | د جنراتور تولیدي ولتاژ | ۳φ, ۴۰۰ V ac @ ۵۰ Hz |

| ۱۴ | د پايي ارتفاع | ۱۷/ ۲۴/ ۳۰/ ۳٦ m |
|---|---|---|

### ۴-۳-۳-۳ بادي توربین د پايې انتخاب

دا څرګنده خبره ده چې د لوړوالي په زیاتوالي سره د باد سرعت هم زیاتېږي، خو موږ نشو کولای د پايې لوړوالی تر یوه حده زیات کړو، ځکه چې د پایې لوړوالي زیاتوالی د لګښت د زیاتوالي سبب ګرځي، چې دا یو غیر اقتصادي عمل دی. د پايي لوړوالی د انتخاب شوي توربین او د ساحې د شرایطو پر اساس ټاکل کېږي. د دې لپاره، چې د انتخاب شـویو توربینونو د نصـب لوړوالی له ۱۷ تر ۳٦ مترو پورې دی، نو په دې سیستم کې ۳۰ متره لوړوالی په پام کې نیول شوی، په دې لوړوالي کې، لکه څنګه چې پخوا یادونه وشوه، د باد سرعت ۳.۸۴ m/s دی.

### ۴-۳-۳-۴ بادي توربین د روتور ځانګړتیاوې

د بادي بریښنا تولیدي فابریکې (Wind Power Plant) د ډیزاین لپاره، یو له مهمو برخو څخه د روتور انتخاب دی، چې باید په مناسب ډول انتخاب ترسره شي. دلته هم د روتور د انتخاب لپاره د Siemens له نظریې څخه استفاده شوې ده او د درې پرو (blades) لرونکی روتور غوره شوی، چې ځانګړتیاوې یې په (۵) جدول کې ذکر شوې دی.

### ۴-۳-۳-۵ د توربینونو د تعداد انتخاب

د دې لپاره چې د سیسـتم طاقت ۵۰۰kW دی نو د توربینونو تعداد د لاسـته راوړلو لپاره د سیسـتم طاقت د یوه توربین په طاقت باندې تقسیم کېږي.

$$\text{Number of } wind \text{ turbines} = \frac{system\ power}{Rated\ Power\ of\ wind\ turbine} \qquad (۲)$$

$$\text{Number of } wind \text{ turbines} = \frac{500Kw}{20Kw} = 25$$

په نتیجه کې د ۵۰۰ kW بادي سیستم لپاره ۲۵ عدده ۲۰ kW بادي توربینونه انتخابوو.

### ۴-۳-۳-٦ د توربینونو په واسطه تولید شوي طاقت او د سیستم ظرفیت فکتور

د HOMER سافټویر د تحلیل له مخې، د هر توربین تولید شوی منځنی طاقت ٦.۹۲ kW دی. په همدې اساس، د ټول سیستم مجموعي تولیدي طاقت ۱۷۳ kW ته رسېږي. څرنګه چې د سیستم تولیدي طاقت معلوم دی، نو د ظرفیت فکتور (Capacity Factor) هم محاسبه کېدای شي، چې د تحلیل له مخې ۳۴.۷٪ سره برابر دی.

په (۷) شکل کې د کال په ټولو ورځو کې، په هر ساعت کې د سیستم له خوا تولید شوی طاقت یا خروجي طاقت اندازه ښودل شوې ده.




شکل(۷): د بادي توربین خروجی طاقت

### ۴-۳-۳-۷ د سیستم مجموعي مصرف

د اقتصادي تحلیل لپاره مو له مختلفو انټرنټي سرچینو، علمي مقالو او د HOMER سافټویر څخه استفاده کړې ده. له انټرنټي سرچینو څخه د بېلګې په توګه Alibaba.com یادولای شو، له یادو سرچینو څخه د استفادې په نتیجه کې مو په HOMER سافټویر کې د هر توربین لپاره لومړنی لګښت، د عمر له پای ته رسېدو وروسته ترمیمي لګښت، او د عملیاتو پر مهال د کمې خرابۍ د ترمیم لګښتونه، د کال په اوږدو کې شامل کړي چې په پای کې، د دې بادي برېښنا تولیدي سیستم لپاره د یو ۲۰ kW توربین ټول لومړني لګښت چې محاسبه شوی ۱.۹۹ میلیونه افغانۍ دي، چې له جملې څخه ۱.۵ میلیون افغانۍ د یو ۲۰ kW بادي توربین او اړوندو تجهیزاتو بیه ده، ۰.۲۱ میلیونه افغانۍ د ترانسپورټ لګښت دی، ۰.۲۸ میلیونه افغانۍ د نصب لګښت دی. په (٦) جدول کې د توربینونو او اړوندو تجهیزاتو لکه کیبلونو او حفاظتي وسایلو لګښتونه، چې ټولیز لګښت یې ۳۷.۵ میلیونه افغانۍ دی، د ترانسپورټ مجموعي لګښت چې ۵.۲۵ میلیونه افغانۍ دی او د ټول سیستم د نصب مجموعي لګښت چې ۷ میلیونه افغانۍ دی، ښودل شوي دي. نو په نتیجه کې د ټول سیستم مجموعي لومړنی لګښت ۴۹.۷۵ میلیونه افغانۍ دی، چې پدې کې د تجهیزاتو بیه، د ترانسپورټ او نصب لګښتونه شامل دي. د سیستم د لومړنیو لګښتونو تر څنګ، ځینې نورو دوامداره لګښتونه لکه د ځمکې کرایه او د سیستم د حفظ او مراقبت مصارف هم شامل دي، چې د کلنې لګښت په توګه محاسبه کېږي. د ځمکې کرایې لپاره ۰.۳ میلیونه افغانۍ بیه په نظر کې نیول شوې ده، د بادي برېښنا سیستمونو لپاره د حفظ او مراقبت کلنې لګښت د هر کیلوواټ لپاره ۳۰ – ۵۰ امریکایي ډالره ګڼل کېږي چې د ټول سیستم لپاره ۱.۷ میلیونه افغانۍ کېږي(Renewable & Agency, 2019).

جدول(٦). د بادي سيستم مجموعي لومړني او دوامداره کلني لګښتونه

| نوم | تعداد | في واحد قيمت په افغاني | مجموعي قيمت په افغاني |
|---|---|---|---|
| توربين او اړوند وسايل | ۲۵ | ۱۵۰۰۰۰۰ | ۳۷۵۰۰۰۰۰ |
| ترانسپورت | ۲۵ | ۲۱۰۰۰۰ | ۵۲۵۰۰۰۰ |
| نصب | ۲۵ | ۲۸۰۰۰۰ | ۷۰۰۰۰۰۰ |
| د سيستم لومړني مجموعي مصارف | - | - | ۴۹۷۵۰۰۰۰ |
| دوامداره کلني مصارف | - | - | ۲۰۰۰۰۰۰ |

## ۵. ددې څېړنې موندنې

ددې څېړنې موندنې په لاندې مرحلو کې په لاس راغلې دي:

### ۵-۱- د ډيزاين شوي سولر فوتوولتائيک سيستم څخه توليد کېدونکې انرژي

څرنګه چې (۸) شکل راښيي چې په نوموړي سيستم کې په هر کيلو واټ طاقت باندې د توليد شوي انرژي څخه ($LC = 0.74$ KWh / KWp / Day) هغه انرژي چې د سولر فوتوولتائيکونو په ترنه کې ضايع ،او ($LS = 0.09$ KWh / KWp /day) هغه ضايعات دي چې په سيستم کې د دخيلو وسايلو په واسطه ضايع کېږي او (5.76 KWh /KWp /day) انرژي د ګټې اخستنې وړ ده چې تر مصرفونکو پورې رسيږي. د دغه سيستم څخه د جون، جولای، اګست، سپتمبر او اکتوبر په مياشتو کې په زياته اندازه، او په مارچ، اپريل، می او نومبر مياشتو کې په متوسط ډول، اوهمدارنګه په جنوری، فبروری او ډسمبر مياشتو کې په کمه اندازه طاقت په لاس راځي. دغه ډيزاين شوي سولر فوتوولتائيک سيستم څخه په کال کې ۱۰۵۳ MWh انرژي توليدوي.

Normalized productions (per installed kWp): Nominal power 501 kWp




شکل(۸): په يو کيلو واټ باندې په يوه ورځ کې د انرژي د توليد اندازه

## ۵-۲- د سیستم د فعالیت نسبت (PR)

په (۹) شکل کې د کال په هره میاشت کې د سولر فوتوولتائیک انرژي فعالیت نسبت راښیي چې په هره میاشت کې نظر د هوا حالاتو ته توپیر کوي. په جنوری، فبروری، مارچ، نومبر او ډسمبر میاشتو کې په زیاته اندازه، په اپریل، می او اکتوبر په میاشتو کې په منځنۍ ډول او د جولای میاشت کې په کمه اندازه دی، په کلني ډول د سیستم د فعالیت نسبت اوسط مقدار یې ۰.۸۷۴ دی.




شکل(۹): د دیزاین شوي سولر فوتوولتائیک سیستم د فعالیت نسبت

## ۵-۳- د دیزاین شوي سولر فوتوولتائیک سیستم د ضایعاتو محاسبه

په سولر فوتوولتائیک سیستمونو کې د طاقت او انرژي ډول ډول ضایعات شتون لري، څرنګه چې (۱۰) شکل کې راښيي چې په سیستم کې مجموعي تولید شوي انرژي په پوره ډول تر مصرف کوونکو پورې نه رسیږي یوه اندازه یې د لرې فاصلې جسمونو (Far shading)، د نیږدې فاصلې جسم (Near shading) ، د ګرد او خاورو (Soiling Losses) د ضـــایعاتو د رامنځته کیدو له امله کمیږي چې د انرژي اندازه MWh ۱۱۸۰ ته راټیټه شوي.

همدارنګه د دغې انرژي یوه برخه په اینورټر کې د عملیاتو په جریان کې ضـایع کیږي چې له امله یې اندازه ۱۰۵۲.۸ MWh ته ټیټه شوي، نو په پایله کې داسي ویلاي شو چې په کلني ډول له سیستم څخه د ترلاسه کیدونکي انرژي اندازه ۱۰۵۲.۸ MWh ده.




شکل(۱۰): د ډیزاین شوي سولر فوتوولتائیک سیستم ضایعات

### ۴-۵ د ډیزاین شوي سولر فوتوولتائیک سیستم اقتصادي پایلې

د لومړني لګښت تیټوالي له امله، د پانګې بېرته ترلاسه کولو موده هم کمه ده. په(۷) جدول کې د سولر فوتوولتائیک سیستم د ډیزاین عمومي پایلې ښودل شوي دي.

جدول(۷). د سولر فوتوولتائیک سیستم د ډیزاین عمومي پایلې

| شماره | ځانګړتیاوې | خرګندوني |
|---|---|---|
| ۱ | د سیستم طاقت | ۵۰۰ kW |
| ۲ | د سیستم خروجي طاقت | ۴۵۷ kW |
| ۳ | کلني تولید شوي انرژي | ۱۰۵۲۸۰۰kWh |
| ۴ | د سیستم د فعالیت نسبت | ۸۷٪ |
| ۵ | د سیستم مفیده عمر | ۲۵ کاله |
| ٦ | د سیستم مجموعي اولیه مصارف | ۹٦۱۷۸۰۰؋ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | د سیستم دوامداره کلنی لګښت | ۸۰۰۰۰۰؋ |
| ۸ | سیستم خخه ترلاسه کیدونکي کلني عواید | ۴۴۶۴۰۰۰؋ |
| ۹ | د یو کیلوواټ ساعت انرژي ارزښت | ۱.۱۳ Af/kWh |
| ۱۰ | د سیستم د سر ګټلو موده (PP) | ۲.۲ کاله |
| ۱۱ | د سیستم خالص اوسني ارزښت (NPV) | ۲۰۱۴۲۲۰۰ |
| ۱۲ | د سیستم د ګټې او مصرف نسبت (B/C) | ۳.۰۹۴ |
| ۱۳ | د سیستم پانګوني ګټه (ROI) | ۱۰.٦ |

### ۵-۵- د ډیزاین شوي بادي سیستم تخنیکي او اقتصادي پایلې

د ۵۰۰ kW بادي سیستم تخنیکي او اقتصادي تحلیل پایلې په(۸) جدول کې ښودل شوي دي.

جدول(۸). د بادي سیستم د ډیزاین عمومي پایلې

| شماره | ځانګړتیاوې | اندازه |
|---|---|---|
| ۱ | د سیستم طاقت | ۵۰۰ kW |
| ۱ | د سیستم خروجي طاقت | ۱۷۳ kW |
| ۲ | کلني تولید شوي انرژي | ۱۵۱۹۵۰۴kWh |
| ۳ | د سیستم د ظرفیت فکتور | ۳۴.۷٪ |
| ۴ | د سیستم مفیده عمر | ۲۰ کاله |
| ۵ | د یو کیلوواټ ساعت انرژي ارزښت | ۳.۲۹ Af/kWh |
| ٦ | د سیستم مجموعي اولیه مصارف | ۴۹۷۵۰۰۰۰؋ |
| ۷ | د سیستم دوامداره کلني مصارف | ۲۰۰۰۰۰۰؋ |
| ۸ | سیستم خخه ترلاسه کیدونکي کلني عواید | ۵۵۹۷۵۲۰؋ |
| ۹ | د سیستم د سر ګټلو موده (PP) | ۸.۹ کاله |
| ۱۰ | د سیستم خالص اوسني ارزښت (NPV) | ۸۰۵۰۰۰۰؋ |
| ۱۱ | د سیستم د ګټې او مصرف نسبت (B/C) | ۱.۱٦ |
| ۱۲ | د سیستم پانګوني ګټه (ROI) | ۱.۲۵ |

## ٦. مناقشه

دا څېړنه چې په غزني ولایت کې ترسره شوې، څرګندوي چې د بادي او سولر فوتوولتائیک انرژیو ترمنځ انتخاب باید یوازې د نظري تولید پر بنسټ ونه شي، بلکې د سیمې واقعي اقلیمي او اقتصادي شرایطو ته اړتیا ده.

که څه هم د بادي سیستمونو کلني فعالیت ساعتونه تر لمریز سیستم ډېر ښودل شوي، خو د باد ټیټ منځنی سرعت ۳.۸۴ متر بر ثانیه د دې سبب شوی چې عملي تولید کم او بې‌ثباته وي، چې دا د بادي انرژي د

تخنيکي محدوديتونو څرګندونه کوي. برعکس، د غزني ولايت د لوړ لمريز شعاعيت او شاوخوا ۳۰۰ لمرينو ورځو شتون د دې لامل شوی چې لمريز سيستمونه ثابت، باوري او د تطبيق وړ انتخاب وګرځي.

له اقتصادي اړخه، تحليل ښيي چې بادي سيستمونه د لوړ ابتدايي لګښت، ساتنې مصارفو او اوږدې پانګې بېرته ترلاسه کولو مودې له امله د پانګونې لپاره مناسب نه دي، په داسې حال کې چې سولر فوتوولتائيک سيستمونه د ټيټ لګښت، لوړ ROI او مناسب B/C نسبت له امله اقتصادي برتري لري. دا پايلې له نړيوالو مطالعاتو سره همغږي لري، چې ښيي په هغو سيمو کې چې د باد سرعت له ٦ متر بر ثانيه څخه کم وي، بادي انرژي اقتصادي توجيه نه لري.

سربېره پر دې، تخنيکي او عملياتي اړخونه هم د سولر فوتوولتائيک سيستم په ګټه دي، ځکه دا سيستمونه ساده جوړښت لري، لږ ساتنې ته اړتيا لري او د محلي تخنيکي پرسونل له خوا په اسانۍ اداره کېداى شي. په مقابل کې، بادي سيستمونه د چاپېريال، شور او تخنيکي پيچلتيا له امله محدوديتونه لري. نو ځکه، دا څېړنه دا روښانه کوي چې د غزني ولايت لپاره سولر فوتوولتائيک انرژي نه يوازې تخنيکي بلکې اقتصادي او عملي لحاظه هم تر ټولو مناسب انتخاب دی.

په دغه څېړنه کې په غزني ولايت کې د سولر فوتوولتائيک او بادي انرژيو تخنيکي او اقتصادي ارزونه ترسره شوه، تر څو معلومه شي چې کومه انرژي د دې ولايت لپاره غوره انتخاب دی. ددې لپاره د PVsyst او HOMER سافټويرونو څخه استفاده وشوه او د دواړو سيستمونو اړوند مختلف تخنيکي، اقتصادي او چاپېريالي اړخونه په دقت سره وارزول شول. دې څېړنې درې اهداف درلودل چې عبارت دي له د سولر فوتوولتائيک او بادي انرژيو تخنيکي، د سولر فوتوولتائيک او بادي انرژيو اقتصادي تحليل او ارزونه او د غزني ولايت لپاره د غوره انرژي انتخاب. دغه اهداف د سولر فوتوولتائيک او بادي انرژيو لپاره د مناسبې ساحې په انتخاب او د سولر فوتوولتائيک او بادي سيستمونو په ډيزاين څخه ترلاسه شول. د دغو اهدافو پايلې په لاندې ډول په تفصيل سره بيانوو.

د عراق د تکريت ښار په اړه (Mohammed et al., 2019) څېړنه هم ورته پايلې وړاندې کوي. هغوی څرګنده کړې وه چې د سولر فوتوولتائيک سيستم موثريت د بادي سيستم په پرتله لوړ دی، که څه هم د نصب لومړنی لګښت يې نسبتاً زيات و. په دواړو څېړنو کې دا نتيجه ترلاسه شوې چې لمريزه انرژي د بادي انرژي په پرتله د عملي کارونې لپاره اغېزمنه او باوري سرچينه ده. همدارنګه، د (Sunderland et al., 2018) څېړنې وښودله چې سولر PV سيستمونه له مالي پلوه د بادي انرژي په پرتله مناسب دي، حتی په هغو

سيمو کې چې د باد سرچينې نسبتاً مناسبې وي.د غزني د څېړنې پايلې هم دا تاييدوي چې د سولر سيستم د توليد لګښت کم او اقتصادي ګټه يې زياته ده.

د (Liu et al., 2018) څېړنه بيا څرګندوي چې په چين کې د بادي انرژي د توليد لګښت د سولر انرژي په پرتله لږ و، چې دا د غزني د څېړنې له پايلو سره توپير لري. د دې توپير اساسي علت د اقليمي شرايطو، د باد سرعت، تخنيکي زيربناوو او د تجهيزاتو د قيمتونو اختلاف بلل کېږي. په چين کې د باد مناسب سرعت او پرمختللې تخنيکي اسانتياوې د بادي انرژي اقتصادي موثريت لوړ کړی، خو په غزني کې د باد کم سرعت او د تجهيزاتو لوړ لګښت د بادي سيستم اقتصادي اغېزمنتيا راکمه کړې ده.

### ٦-١- د سولر فوتوولتائيک سيستم او بادي سيستم تر منځ تخنيکي ارزونه

په دغه څېړنه کې سولر فوتوولتائيک او بادي دواړه سيستمونه د kW ۵۰۰ په ظرفيت سره ډيزاين شوي، نو په نتيجه کې وليدل شوه چې د سولر فوتوولتائيک سيستم د فعاليت ساعتونه تر بادي سيستم شاوخوا دری چنده کم دي. دا ځکه چې د سولر فوتوولتائيک سيستمونو فعاليت د لمر په شتون پورې تړلی دی او لمر د ورځې په اوږدو کې شتون لري په داسې حال کې چې باد ممکن په ټوله ورځ او شپه کې شتون ولري. له همدې امله د بادي سيستم د فعاليت ساعتونه زيات دي، څرنګه چې په (۸) جدول کې ليدل کيږي چې د بادي سيستم کلنی توليد شوی انرژي ۱۵۱۹۵۰۴ kWh هم د سولر فوتوولتائيک سيستم د کلني توليدي انرژي ۱۰۵۲۸۰۰ kWh څخه زياته ده. که چيرته د دواړو سيستمونو خروجي طاقتونو ته وګورو نو د سولر فوتوولتائيک سيستم خروجي طاقت ۴۵۷ kW دی، په داسې حال کې چې د بادي سيستم خروجي طاقت ۱۷۳ kW دي، دا ځکه چې په غزني ولايت کې د باد منځنی سرعت په ۳۰ متره ارتفاع کې يوازې ۳.۸۴ متره فی ثانيه دی. د سولر فوتوولتائيک سيستم مفيده عمر هم نسبت بادي سيستم ته زيات دی.

په نتيجه کې داسي ويلای شو چې که څه هم د بادي سيستم د فعاليت ساعتونه او کلني توليدي انرژي مقدار تر سولر فوتوولتائيک سيستم زياته ده خو د بادي سيستم خروجي طاقت د کم باد سرعت له امله له سولر فوتوولتائيک سيستم څخه ډير کم دي چې دغه ټکی له تخنيکي نظره د غزني ولايت لپاره د سولر فوتوولتائيک سيستم غوره والي ثابتوي.

جدول(۹). د سولر فوتوولتائيک سيستم او بادي سيستمونو تخنيکي مقايسه

| شماره | ځانګړتياوې | سولر فوتوولتائيک سيستم | بادي سيستم |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کلني افقي وړانګو اندازه / د باد متواسط کلنی سرعت | ۲۰۹۹.۸ | ۳.۸۴ m/s |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | د سیستم طاقت | ۵۰۰ kW | ۵۰۰ kW |
| ۳ | د سیستم خروجي طاقت | ۴۵۷ kW | ۱۷۳ kW |
| ۴ | کلني تولید شوي انرژي | ۱۰۵۲۸۰۰kWh | ۱۵۱۹۵۰۴kWh |
| ۵ | د سیستم د فعالیت نسبت / ظرفیت فکتور | ۸۷٪ | ۳۴.۷٪ |
| ٦ | د سیستم د فعالیت ساعتونه په کال کې | ۲۲۱٦ | ٦۸۸۷ |
| ۷ | د سیستم مفیده عمر | ۲۵ کاله | ۲۰ کاله |

## ٦-۲- د سولر فوتوولتائیک سیستم او بادي سیستم تر منځ اقتصادي ارزونه

په غزني ولایت کې د سولر فوتوولتائیک او بادي انرژیو اقتصادي تحلیل او ارزونه د ۵۰۰ kW سولر فوتوولتائیک او بادي سیستمونو په ډیزاین سره ترسره شوې. د سولر فوتوولتائیک او بادي سیستمونو د اقتصادي تحلیل پایلې په جدول (۱۰) کې ذکر شوې دي، لیدل کیږي چې د بادي سیستم اولیه مصارف نظر سولر فوتوولتائیک سیستم ته پنځه چنده زیات دي او همدارنګه د بادي سیستم دوامداره کلني مصارف هم نظر سولر فوتوولتائیک سیستم ته ۲.۵ چنده زیات دي. د زیاتو اولیه او دوامداره مصارفو له امله د بادي سیستم د یو kWh انرژي قیمت او همدارنګه د سیستم د سر ګټلو موده هم نسبت سولر فوتوولتائیک سیستم ته زیاته ده. د سولر فوتوولتائیک سیستم د ګټې او مصرف نسبت (B/C) او همدارنګه د پانګونې ګټه (ROI) تر بادي سیستم ډیره لوړه ده.

جدول(۱۰). د سولر فوتوولتائیک سیستم او بادي سیستمونو اقتصادي مقایسه

| شماره | ځانګړتیاوې | سولر فوتوولتائیک سیستم | بادي سیستم |
|---|---|---|---|
| ۱ | د یو کیلوواټ ساعت انرژي ارزښت | ۱.۱۳ ؋/kWh | ۳.۲۹؋ /kWh |
| ۲ | د یو کیلوواټ ساعت انرژي د خرڅلاو بیه | ۵ افغانۍ | ۵ افغانۍ |
| ۳ | د سیستم مجموعي اولیه مصارف | ؋۹٦۱۷۸۰۰ | ؋۴۹۷۵۰۰۰۰ |
| ۴ | د سیستم دوامداره کلني مصارف | ؋۸۰۰۰۰۰ | ؋۲۰۰۰۰۰۰ |
| ۵ | سیستم څخه ترلاسه کیدونکي کلني عواید | ؋۴۴٦۴۰۰۰ | ؋۵۵۹۷۵۲۰ |
| ٦ | د سیستم د سر ګټلو موده (PP) | ۲.۲ کاله | ۸.۹ کاله |
| ۷ | د سیستم خالص اوسني ارزښت (NPV) | ۲۰۱۴۲۲۰۰ | ۸۰۵۰۰۰۰ |
| ۸ | د سیستم د ګټې او مصرف نسبت (B/C) | ۳.۰۹۴ | ۱.۱٦ |
| ۹ | د سیستم پانګونې ګټه (ROI) | ۱۰.٦ | ۱.۲۵ |

## ۷. څېړنې عمومي پایلې

په غزني ولایت کې د سولر فوتوولتائیک او بادي انرژیو تخنیکي او اقتصادي تحلیل او ارزونه د kW ۵۰۰ سولر فوتوولتائیک او بادي سیستمونو په ډیزاین سره ترسره شوې، د دغې ارزونې پایلې ښیي چې په

غزنۍ ولایت د افغانستان له هغو سیمو څخه دی، چې د کال په اوږدو کې په منځنۍ توګه هره ورځ ٦-٧ ساعته لمر لري. دا لمر د سولر فوتوولتائیک پنلونو لپاره کافي دی چې برېښنا تولید کړي. په داسي حال کې چې په غزنۍ ولایت کې مناسب باد شتون نه لري او د باد اوسط سرعت ډېر ټیټ دی نو ځکه د غزني ولایت لپاره سولر فوتوولتائیک انرژي له تخنیکي نظره غوره انتخاب دی. د اقتصادي نظره هم د غزني ولایت لپاره سولر فوتوولتائیک انرژي نظر بادي انرژي ته غوره انتخاب دی، ځکه چې د بادي سیستم اولیه او دوامداره مصارف تر سولر فوتوولتائیک سیستم څو چنده زیات دي او همدارنګه د بادي سیستم د یو kWh انرژي ارزښت او د سرګېلو موده تر سولر فوتوولتائیک سیستم څو چنده زیاته ده. که څه هم بادي سیستمونه ممکن د کلني تولید له نظره لوړ رقم وړاندې کړي، خو د غزني د جغرافیايي، اقلیمي، اقتصادي شرایطو او تخنیکي محدودیتونو له مخې، دا سیستمونه مناسب نه دي. برعکس، سولر فوتوولتائیک سیستمونه هم د فعالیت او هم د لګښت له نظره تر بادي سیستم غوره دي. د ترلاسه شویو پایلو په نتیجه کې داسې ویلای شو چې د غزني ولایت لپاره د سولر فوتوولتائیک سیستمونو له تخنیکي او اقتصادي پلوه تر بادي سیستمونو غوره انتخاب دی.

## ماخذونه


ثقفی، م .( ۱۴۰۱ ه.ش) منابع انرژی تجدید پذیر. انتشارات دانشگاه تهران.

Ahady, S., Dev, N., & Mandal, A. (2020). An overview of the opportunities and challenges in sustaining the energy industry in Afghanistan. In E3S Web of Conferences (Vol. 173, p. 03006). EDP Sciences.

Ahmadi, M. H., Hosseini Dehshiri, S. S., Hosseini Dehshiri, S. J., Mostafaeipour, A., Almutairi, K., Ao, H. X., ... & Techato, K. (2022). A thorough economic evaluation by implementing solar/wind energies for hydrogen production: a case study. Sustainability, 14(3), 1177.

Anwarzai, M. A., & Nagasaka, K. (2017). Utility-scale implementable potential of wind and solar energies for Afghanistan using GIS multi-criteria decision analysis. Renewable and Sustainable Energy Reviews, 71, 150-160.

Adnan, M., Ahmad, J., Ali, S. F., & Imran, M. (2021). A techno-economic analysis for power generation through wind energy: A case study of Pakistan. Energy Reports, 7, 1424-1443.

Amiri, A. A. (2021). Comparative analysis of economic aspects of concentrated solar power versus photovoltaic in Afghanistan-Case study: Kang district, Nimruz. International Journal of Innovative Research and Scientific Studies, 4(2), 111-119.

Biçen, T., & Vardar, A. (2022). Technical and Economic Analysis of Electricity Production with Solar Panels: Bursa Example. Bursa Uludağ Üniversitesi Ziraat Fakültesi Dergisi, 36(1), 59-73.

Dellosa, J. T., Panes, M. J. C., & Espina, R. U. (2021, September). Techno-economic analysis of a 5 MWp solar photovoltaic system in the Philippines. In 2021 IEEE International Conference on Environment and Electrical Engineering and 2021 IEEE Industrial and Commercial Power Systems Europe (EEEIC/I&CPS Europe) (pp. 1-6). IEEE

Davis, P., & Green, R. (2019). Wind and solar energy: A techno-economic assessment of their potentials in developing countries. Journal of Renewable Energy.

Durrani, T. et al. (2019). "Renewable Energy Development in Afghanistan: Opportunities and Challenges." Journal of Energy and Power Engineering.

Ershad, A. M. (2014). Potential of solar photovoltaic and wind power plants in meeting electricity demand in Afghanistan (Master's thesis, University of Dayton).

Ershad, A. M., Brecha, R. J., & Hallinan, K. (2016). Analysis of solar photovoltaic and wind power potential in Afghanistan. Renewable Energy, 85, 445-453.

Haidari, A. (2020). Renewable Energy (Solar) and Its Impact on Rural Households' Welfare (Case Study of Badakhshan Province, Afghanistan). Journal of Economics and Business, 3(2).

Ibrahim, M. M. (2022). Technical and economic comparison between solar and wind energy supplying a desalination system. Journal of Sustainable Development of Energy, Water and Environment Systems, 10(2), 1-24.

Jahangiri, M., Haghani, A., Mostafaeipour, A., Khosravi, A., & Raeisi, H. A. (2019). Assessment of solar-wind power plants in Afghanistan: A review. Renewable and Sustainable Energy Reviews, 99, 169-190.

Jürgensen, H., et al. (2020). "Cost comparison of solar and wind energy in different geographical regions." Energy Economics.

Khajah, A. M., & Philbin, S. P. (2022). Techno-economic analysis and modelling of the feasibility of wind energy in Kuwait. Clean Technologies, 4(1), 14-34.

Liu, G., Li, M., Zhou, B., Chen, Y., & Liao, S. (2018). General indicator for techno-economic assessment of renewable energy resources. Energy conversion and management, 156, 416-426.

Mohammed, N. Q., Ahmed, M. S., Mohammed, M. A., Hammood, O. A., Alshara, H. A. N., & Kamil, A. A. (2019, May). Comparative analysis between solar and wind turbine energy sources in IoT based on economic and efficiency considerations. In 2019, the 22nd International Conference on Control Systems and Computer Science (CSCS) (pp. 448-452). IEEE.

M., & Ahadi, M. H. (2020). Renewable energy potential for sustainable development in Afghanistan. Journal of Sustainable Energy Revolution, 8-15.

Mehrad, A. T. (2021). Assessment of solar energy potential and development in Afghanistan. In E3S Web of Conferences (Vol. 239, p. 00012). EDP Sciences.

Neupane, D., Kafle, S., Karki, K. R., Kim, D. H., & Pradhan, P. (2022). Solar and wind energy potential assessment at the provincial level in Nepal: Geospatial and economic analysis. Renewable Energy, 181, 278-291.

Weather spark.

Noorzad, N. (2018). Renewable energy: Power generation and opportunities for a sustainable future in Afghanistan. Master of Science Thesis. Muğla Sıtkı Koçman University, Turkey, 15-38.

Naseri, E., Altan, B. D., & Güngör, A. (2024). Investigating Solar Energy Potential in Afghanistan under Certain Climatic and Geometrical Parameters of Cities and Buildings. International Journal of Engineering and Applied Sciences, 16(4), 179-194.

Pourasl, H. H., & Khojastehnezhad, V. M. (2021). Techno-economic analysis of wind energy potential in Kazakhstan. Proceedings of the Institution of Mechanical Engineers, Part A: Journal of Power and Energy, 235(6), 1563-1576.

Qasimi, A. B., Isazade, V., & Toomanian, A. (2022). A Review of Sustainable and Renewable sources of energy for Afghanistan. Journal of Renewable Energy and Mechanics, 5(02), 60-75.

Safi, R., & Sharma, M. P. (2019). Energy scenario of Afghanistan. Energy, 9(4).

Sediqi, M. M., Howlader, H. O. R., Ibrahimi, A. M., Danish, M. S. S., Sabory, N. R., & Senjyu, T. (2017). Development of renewable energy resources in Afghanistan for economically optimized cross-border electricity trading. Aims Energy, 5(4).

Serat, Z., Danishmal, M., & Mohammadi, F. M. (2024). Optimizing hybrid PV/wind and grid systems for sustainable energy solutions at the university campus: Economic, environmental, and sensitivity analysis. Energy Conversion and Management: X, 24, 100691.

Slimankhil, A. K., Anwarzai, M. A., Sabory, N. R., Danish, M. S. S., Ahmadi, Harrucksteiner, A., Thakur, J., Franke, K., & Sensfuss, F. (2023). A geospatial assessment of the techno-economic wind and solar potential of Mongolia. Sustainable Energy Technologies and Assessments, 55, 102889.

Tayeb, M. B., Rahnuma, M. S., & Ghafourzay, H. (2024). The Impact of Renewable Energy on Sustainable Economic Growth in Afghanistan. Nangarhar University International Journal of Biosciences, 362-367.

Zgham, W., Shirzad, S., & Fatemi, S. A. Z. (2024). Energy Assessment & Comparative Study of Mono and Poly Solar PV Technologies Using Advanced PVsyst Software. Archives of Advanced Engineering Science, 1-7.

Zhang, L., et al. (2021). "Techno-economic analysis of wind energy potential in China: A case study in the Xinjiang region." Renewable Energy.

# Technical and Economic Evaluation of Solar Photovoltaics and Wind Energy in Ghazni Province

Dost Mohammad Sarwari[1*], Mohammad Yasin Kamaly[1], Mohammad Adel Adeel[1], Atiqullah Hamim[1] and Mohammad Siddique Nazari[2]

1. Electrical Power Engineering Department, Electromechanics Faculty, Ghazni Technical University, Ghazni, Afghanistan
2. Electrical Power Engineering Department, Engineering Faculty, Dawat University, Kabul, Afghanistan

sarwari@teug.edu.af

## Abstract

This research was conducted in Qalai Jouz, the central area of Ghazni province, to compare the technical and economic aspects of wind and solar energy. Ghazni and Afghanistan in general face electricity shortages and low-quality supply. Therefore, using clean and renewable domestic resources is important not only for energy independence but also for reducing environmental costs and strengthening the economy. In this study, both wind and solar systems were designed with a capacity of 500 kW. The goal was to analyze and compare both resources and determine the most suitable and sustainable energy option for Ghazni province. The analysis was done using HOMER Pro and Pvsyst software, which assessed climate data, production capacity, costs, revenues, and payback period. The results show that the solar system operates for 2,216 hours annually, with an output power of 457 kW and an annual production of 1,052,800 kWh. Its initial cost is 9.678 million AFN, with annual expenses of 0.8 million AFN and annual revenue of 4.464 million AFN. The wind system operates for 6,687 hours per year, with an output of 173 kW and total generation of 1,519,504 kWh. Its initial cost is 49.75 million AFN, annual expenses are 2 million AFN, and annual revenue is 5.5975 million AFN. The higher generation and revenue of the wind system are due to more operating hours. The cost of electricity per kWh is 1.13 AFN for the solar system and 3.29 AFN for the wind system. The payback periods are 2.2 years for solar and 8.9 years for wind. Although the wind system produces more electricity, the solar system's lower cost, faster payback, and higher efficiency indicate that it is the better choice for Ghazni. The study recommends prioritizing solar energy in Ghazni's center and continuing wind energy studies only in areas with high wind potential.

***Keywords:*** *Economic Analysis, Ghazni Province, Solar Energy, Technical Analysis, Wind Energy*

# د لمریزو فوتوولتائیک حجرو د نسلونو مقایسوي څېړنه او د پرمختګ بهیر

**پوهندوی  فدامحمد محمدي [۱*]، پوهنمل رحمت الله لیوال [۲]، حمیدالله هوډیال [۳]**

۱- فزیک څانګه، ښووني او روزنې پوهنځی، غزني پوهنتون

۲- فزیک څانګه، ښووني او روزنې پوهنځی ، پکتیکا پوهنتون

۳- د چین د ساینس او تیکنالوژي پوهنتون د دوکتورا محصل

د لیکوال ایمیل ادرس : fadamohammad1987@gmail.com

---

## لنډیز

دا څېړنه د کېفي میتود په اساس د لمریزو حجرو د نسلونو ترمنځ پرتله کول دي. د انرژي د زیاتیدونکو اړتیاوو له امله لمریزه انرژي زیات ارزښت لري چې د فوسیل سون توکو لپاره یو مناسب، پایدار او پاک بدیل ګڼل کیږي. لمریزه فوتوولتائیک  تکنالوژي د بریښنا د تولید لپاره یوه مخکښه طریقه ده چې په دې وروستیو کلونو کې یې بیې را ټیټې او اغېزمنتیا یې لوړه شوې ده. فوتوولتائیک لمریزې حجرې تر اوسه څلور نسلونه لري. لومړی نسل لمریزې حجرې چې مونوکریسټالین، پولی‌کریسټالین او ګالیم آرسنایډ حجرې دي. دویم نسل لمریزې حجرې چې د نازک  فلم ټکنالوژي آمورف سیلیکان، کادمیم ټیلورایډ او مس ، ایندیم ، ګالیم او سلنایډ حجرې دي. درېیم نسل لمریزې حجرې چې  پرمختللې حجرې پیروسکایټ، کوانټم ټکی، څو پیوندیزې حجرې دي. څلورم نسل لمریزې هایبریډ حجرې دي. د بیې د کمېدو، تکنالوژي د پراخېدو او د نړیوالو بازارونو پراخ ملاتړ له امله لمریزې انرژي ته پانګونه ورځ تر بلې زیاتیږي. دې نتیجې ته رسیږو چې ترټولو یې درېیم نسل تر اوسه د ټیټې بیې ، مؤثریت، نوري  او الکترونیکي ځانګړتیاو  له اړخه بهترین انتخاب دي.

***کلیدي کلمې:*** پیرووسکایټ حجرې، لمریزه انرژي، فوتوولتائیک حجرې، مونوکریسټالین سلیکان، نازک فلم حجرې.

## ۱. سریزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، الذي علَّم بالقلم، علَّم الإنسانَ ما لم يعلم، والصلاةُ والسلامُ على نبيِّنا محمدٍ، وعلى آلهِ وصحبِهِ أجمعين. أمّا بعدُ:

په وروستيو لسيزو کې د انرژي اړتياوې مخ پر زياتېدو دي چې پايدارو او پاکو انرژيو ته اړتيا ډېره محسوس شوې ده. په عصري نړۍ کې د انرژي غوښتنه ورځ تر بلې زياتيږي او د تجديد وړ سرچينو لکه لمريزې انرژي پراخې کارونې ته اړتيا پيدا شوې ده. لمريزه انرژي د چاپېريال لپاره پاکه او باثباته سرچينه ده د لمريزې انرژي څخه د برېښنا د توليد لپاره لمريز فوتوولتائيک سيستمونه ډېر مهم رول لري. لمر د انرژي يوه بډايه او پراخه سرچينه ده. انسانان د لمر له انرژي څخه يوازې يوه کوچنۍ برخه ګټه اخلي، خو دا امکان شته چې د ځمکې سطحې ته رسېدونکې لمريزې وړانګې د انرژي د لوړېدونکو اړتياوو پوره کولو ظرفيت ولري.

په ۲۰۲۲ ميلادي کال کې د لمريزې فوتوولتائيک انرژي په توليد کې د پام وړ زياتوالی راغلی وو چې شاوخوا (GW) ۲۸۶ګيګاواټه نوی توليدي ظرفيت ور اضافه شو يعنې شاوخوا ٪۲۶ وده يې کړې ده. د دې زياتوالي له امله د سولر PV مجموعي توليد شاوخوا ۱۲۰۰ ګيګاواټه ته ورسېد، دا لومړی ځل وو چې د لمريزې انرژي توليد د بادي انرژي په پرتله زيات مطلق توليد وړاندې کړ (IRENA, 2023), (Sharma & Mishra, 2025).

د څېړنو له مخې او اړتياوو ته په کتو سره به په دې هيوادونو هند او متحده ايالاتو کې د ۲۰۲۲ څخه تر ۲۰۲۷ ميلادي کلونو پورې لمريز PV توليدي سکتور ته له ۲۵ ميلياردو امريکايي ډالرو څخه ډېره پانګونه وشي. دا پانګونه د تېرو پنځو کلونو په پرتله اووه چنده زياته ده. په هند کې د نويو توليدي ظرفيتونو په زياتولو سره به د بادي او لمريزې برېښنا د توليد کچه د ۱۴۵ ګيګاواټه په اندازه لوړه شي، چې دا به د هند هېواد روان ظرفيت نږدې دوه چنده کړي چې د ۲۰۲۲ څخه تر ۲۰۲۷ کلونو پورې به ترسره شي. په راتلونکو پنځو کلونو کې به د بادي او لمريزې فوتوولتائيک برېښنا په توليد کې د پام وړ زياتوالی راشي چې د موجوده توليد په پرتله به دوه چنده زيات شي. د ۲۰۲۷ ميلادي کال تر پای پورې اټکل کېږي چې د دغه نوې کيدونکې انرژي سرچينې به د نړۍ د ټولې برېښنا د توليد شاوخوا ٪۲۰ برخه جوړه کړي (Sharma & Mishra, 2025), (IRENA2023), (IEA, 2022).

د بشريت په تاريخ کې انسانانو تل د انرژي پر دوديزو سرچينو لکه فوسيل سون توکو، سکرو، طبيعي ګاز، کرنيزو فاضله موادو او نورو منابعو ډېره تکيه کړې ده. د انرژي د دې محدودو زيرمو پراخ استعمال د چاپېريال بېلابېلو ستونزو ته لاره هواره کړې ده، چې د فضا ککړتيا، اوبو ککړتيا، اقليمي بدلونونه او د ژونديو موجوداتو پر ډولونو منفي اغېزې پکې شاملې دي له همدې امله دا مهمه ده

چې د انرژي چاپیریال دوستانه یا غیر دوديزې سرچینې د استفادې په موخه انتخاب کړل شي، لکه لمر، باد، بایوماس، ځمکنۍ تودوخې او سمندري څپو څخه بیا بیا انرژي ترلاسه کېدای شي. لمریزې انرژي ته د نړۍ په هر ځای کې لاسرسی ممکن دی له همدې امله د فوسیل سون توکو لپاره تر ټولو مناسب بدیل ګڼل کېږي(Matsuyama et al., 2013).

د نړیوالې انرژي ادارې (IEA) د وروستي راپور له مخې لمریزه انرژي په ۲۰۲۲ کال کې هم د نړۍ د نوی کیدونکو انرژیو ظرفیت د پراخوالي اصلي برخه وه چې د ۲۸۶ ګیګاواټه ظرفیت سره مخته ولاړه. د ۲۰۲۴ کال تر پای پورې به دا ظرفیت له ۳۱۰ ګیګاواټه څخه زیات شي. د دې ودې اصلي لاملونه د سولرونو ډولونو د بیو راکمېدل د مختلف PV سیستمونو زیات تطبیق او د حکومتونو له لوري د سترې کچې PV پروژو پراخ تطبیق ته توجه ده. د نړیوالې انرژي ادارې د اصلي اټکل له مخې تمه کېږي چې د ۲۰۲۲ څخه تر ۲۰۲۷کلونو پورې د نړیوالو نوی کیدونکو انرژیو ظرفیت شاوخوا ۲۴۰۰ ګیګاواټه څخه زیات شي، چې دا به نږدې٪۷۵ وده وي (Sharma & Mishra, 2025), (IEA), 2023), (IEA, 2022).

د نړۍ د انرژي اړتیاوې د پوره کولو او د چاپیریال د ساتنې لپاره د نوي کیدونکو انرژیو تکنالوژي ډېرستر ضرورت لري. سربېره پر دې، دا ټکنالوژي اوسمهال تر ټولو د مؤثرې او ګټورې نوې کیدونکې انرژي سرچینه ده. د لمریز فوتوولتائیک ټکنالوژي په پرمختیایي هېوادونو کې کلیوالو سیمو ته د برېښنا رسولو یوه مهمه سرچینه ده (Sharma & Mishra, 2025), (Ahuja & Tatsutani, 2009).

د فوتوولتائیک(PV) حجرو د کارولو اصلي ګټه دا ده چې د لمر انرژي په مستقیم ډول مستقیم جریان (DC) برېښنا ته اړوي. سربېره پر دې د لمریزې انرژي کارول ډېر ساده دي، مستقیماً د کار په ځایونو کې کارول کېدای شي، د جوړونې لپاره کم لګښت ته اړتیا لري، په هر ځای کې حتی د استوګنې په سیمو کې هم خوندي دي.

د لمریزو حجرو یوه بله مهمه ځانګړنه داده چې دا سیستمونه غږیزه ککړتیا نه تولیدوي، چې دا یې له عمومي برېښنایي پمپ کولو سیستمونو سره توپیر ورکوي. فوتوولتائیک (PV) پینلونه د دې له امله چې میخانیکي برخې نه لري، په پراخه توګه د لږ ساتنې او کم عملیاتي لګښتونو لرونکي سیستمونه ګڼل کېږي. د لمریزې فوتوولتائیک تکنالوژي یوه بله ګټه دا ده چې دا وړتیا لري چې اضافي سولر پینلونه د ودانیو پر چتونو او نورو بېلابېلو سطحو پرته له دې چې د شاوخوا خلکو د ژوند چاپېریال ته کوم خنډ یا مزاحمت ور واړوي، نصب شي (Thakur et al., 2022), (Boyle, 2004). په هند کې ځمکې ته د لاسرسي او د چتونو د نصبولو د اسانتیا له امله د سولر برېښنا بیه له ۱۸ ډالر کیلوواټه پر ساعت (په ۲۰۱۱ کال کې) څخه راکمه شوې ده، تر دې چې د ۲۰۲۲ په دسمبر کې دا بیه تر ټولو ټیټې کچې ۲.۲۹ کیلو واټه پر ساعت ته راټیټه شوه (Sharma & Mishra, 2025),

(IRENA, 2023). هند چې په استوايي سيمه کې موقعيت لري د کال په اوږدو کې نسبتاً باثباته لمريزې وړانګې ترلاسه کوي او په اوسط ډول هر کال له ۲۸۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ ساعتونو پورې د لمر وړانګې لري. دغه سيمه هره ورځ له ۴ څخه تر ۷ کيلوواټه ساعت د لمر وړانګې د هر متر مربع سطحې لپاره ترلاسه کوي(Pastuszak & Węgierek, 2022). د ۲۰۲۳ تر دسمبر ۳۱ پورې، د هند د لمريزې برېښنا نصب شوی ظرفيت ۷۳.۱۰۹ ګيګاواټه ته رسېدلی دی. د دې پرمختګ اصلي دليل د سولر پينل د بيې ټيټوالی دی. د دې ځانګړي انرژۍ سرچينې د توليد بيې په تېرو لسو کلونو کې په ښکاره توګه راټيټې شوې دي، چې دا نه يوازې اقتصادي ده، بلکې ډېر وخت د برېښنا توليد تر ټولو ارزانه انتخاب ګڼل کېږي. د ۲۰۱۰ او ۲۰۲۲ کلونو ترمنځ، د سولر ماډيولونو بيې تر ٪۸۸ پورې راکمې شوې دي، په همدې موده کې په پراخه اندازه د سولر PV پروژو لپاره د برېښنا توليد منځنۍ نړيوال لګښت (LCOE) هم ٪۸۸ راټيټ شوی دی. د ۲۰۲۳ کال په جريان کې د نويو نصب شوو پراخې کچې سولر PV برېښنا فابريکو څخه د برېښنا توليد لګښت ۰,۰۵۳ ډالر کيلوواټه پر ساعت ته راټيټ شوی دی. تمه کېږي چې تر ۲۰۵۰ کال پورې دا لګښت ۰,۰۲۱ ډالر کيلوواټه پر ساعت ته راکم شي.

د ۲۰۱۱ او ۲۰۲۳ کلونو ترمنځ د ۲۰۲۳ کال تر پای پورې، په ټوله نړۍ کې د سولر PV مجموعي نصب شوی ظرفيت ۱،۴۱۸،۰۱۶ ميګاواټه ته رسيږي، چې پکې تر ټولو زياته برخه د چين ده (۶۰۹،۹۲۱ ميګاواټه)، بيا د امريکا متحد ايالتونه (۱۳۹،۲۰۵ ميګاواټه)، جاپان (۸۹،۰۷۷ ميګاواټه)، جرمني (۸۱،۷۳۹ ميګاواټه)، او هند (۷۳،۱۰۹ ميګاواټه) دي. په اروپا کې هم د PV سولر نصبونه د پام وړ ده چې مجموعاً ۲۸۸،۶۴۴ ميګاواټه ته رسيږي (Sharma & Mishra, 2025). (IRENA, 2024) ,(IRENA, 2023)

د دې څېړنې موخې د لمريزو فوتوولتائيک حجرو د مختلفو نسلونو پيژندنه او تشريح کول دي. چې د هر نسل جوړښت، موادو، مؤثريت، لګښت او عملي کارونې ترمنځ مقايسه ترسره شي. په ورته ډول د فوتوولتائيک ټکنالوژۍ پرمختګونه او ستونزې بيانول د درېيم او څلورم نسل پرمختللو ټکنالوژيو اهميت روښانه کول او د نوي نانومواد، پيرو سکايټ او هايبريډ حجرو د استعمال اړتيا تحليلول شامل دي. دا موخې د لمريزې انرژۍ د پرمختګ په برخه کې ارزښتمنې لارښوونې چمتو کوي.

## ۲. د څېړنې ميتود

دا څېړنه د لمريزو فوتوولتائيک حجرو د نسلونو د څېړنې لپاره کيفي ميتود څخه استفاده کړې چې د دوهمي معلوماتو پر اساس ولاړه ده دا ميتود په ساينسي څېړنو کې د پراخو موضوعاتو د تحليلي

ارزوني لپاره مناسب بلل کيږي .چې د تجربوي معلوماتو پرته د موجوده علمي موادو څخه پکې استفاده شوې.

د معلوماتو راټولولو مرحلې کې له ګوګل سکالر ، معتبرو مقالاتو، معتبرو علمي کتابونو او ويبسايټونو څخه له ۱۰۰ مختلفو منابعو څخه معلومات راټوله شوې چې د لمريزو حجرو دفوتوولتائيک جوړښت، مؤثريت، لګښت او پرمختګونو په اړه يې پراخه معلومات لرل. بيا د غوراوي معيارونو له مخې لکه د انتشار نيټه، اعتبار او موضوع سره نږدېوالی په اساس له دې څخه ۵۰ تر ټولو معتبرې او اړوند منابع غوره شوې چې تحليلی عمق يې تضمين کړي.

په تحليلی مرحلې کې راټول شوي معلومات د جدولونو او تشريحاتو له لارې تحليل او مقايسه شوي چې د نسلونو جوړښت، مقايسه، پرمختګونه، ستونزې او نوي ټکنالوژيو اهميت روښانه او د دريېم او څلورم نسل اهميت يې وارزول شي.

## ۳.فوتوولتائيک ټکنالوژي

الکساندر ايدموند بيکرېل چې يو فرانسوی فزيک پوه و، په ۱۸۳۹ م کال کې يې د فوتوولتائيک اغېز وموند کله چې يې په يوه الکتروليتي حجره کې تجربه کوله. دا حجره له دوو فلزي الکترودونو جوړه وه چې په يوه برېښنا انتقالوونکي مايع محلول کې ځای پرځای شوي وو. په همدې تجربه کې نوموړي د ولتاژ کشف وکړ. فوتوولتائيک اغېز له همدې ځايه پېژندل شوی، دا پېښه د فوتوولتائيک(PV) اغېز په نوم يادېږي. د لمريزې حجرې تکنالوژي بنسټ د PV اغېز دی. په کلکو موادو کې لکه سيلينيم د PV اغېز لومړی ځل په ۱۸۷۰ کال کې څېړل شوی و. هغه وخت دا ټکنالوژي ګرانه وه او يوازې ٪ ۱-۲ اغېزمنتيا يې درلوده. د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونو په منځ کې د Czochralski(CZ) پروسه رامنځته شوه چې د سليکان د پاکو کرسټالونو د ترلاسه کولو لپاره کارول کېږي.

په PV اغېز کې هغه فوتونونه چې انرژي يې د نيمه هادي موادود انرژي سويه سره مساوي وي جذب کېږي، چې په نتيجه کې الکترونونه اوخاليګاوي (حفرو) د چارج انتقالونکو ذراتو په توګه توليدېږي او لوړ انرژي حالت ته ځي. کله چې n - ټايپ او p - ټايپ نيمه هادي مواد يوځای شي يو جوړه شوی نښلوونکي ساحه رامنځته کېږي چې د برېښنايي ساحې د توليد سبب کېږي. دغه برېښنايي ساحه د دې له امله رامنځته کېږي چې الکترونونه د مثبت چارج لرونکي p - خوا ته حرکت کوي

او سوري یا خالیګاوې د منفي چارج لرونکي n - خوا ته خوځيږي دا پېښه د منفي چارج لرونکو ذراتو یو لور ته حرکت او د مثبت چارج لرونکو ذراتو برعکس حرکت رامنځته کوي. دغه د الکترون حرکت په حجرو کې برېښنايي جريان توليدوي. هره فوتوولتائيک (PV) حجره د څو نيمه هادي موادو طبقې لري. د برېښنا توليد هغه مهال کيږي کله چې د لمريزې وړانګې د حجري پر سطحې دلګيدو په وخت کې د نيمه هادي موادو په بېلابېلو طبقو کې یو برېښنايي ساحه رامنځته شي. هغه ځواک چې حجره ترلاسه کوي د لګيدونکې نور په شدت پورې تړلی دی. د ځمکې وړتیا د لمریز ځواک د ترلاسه کولو لپاره شاوخوا $۱.۸ \times ۱۰^{۱۱}$ ميګاواټه اټکل شوې چې دا د اوسني توليد له اندازی څخه ډېر زيات دی.

د نړۍ د انرژي د مصرف په کچه کې د فوتوولتائيک(PV) حجرو ونډه ډېره مهمه ده. د PV حجرو جوړښت د نيمه هادي موادو لکه سلیکان څخه کیږي. سليکان چې څلور ولانسه الکترونونه لري اکثره په PV حجرو کې کارول کيږي. کله چې د n-ټايپ ځانګړتیا لرونکی ورکونکي لکه فاسفورس چې پنځه ولانسه الکترونونه لري، د حجري په يوه خوا کې ور اضافه شي نو سليکان مواد په خپل ولانس کې ازاد الکترونونه ترلاسه کوي، چې د منفي چارج لرونکو ذرو زیاتوالی رامنځته کوي.

بورون چې درې ولانسه الکترونونه لري، د سليکان په پرتله د الکترون جذبولو توان لري او د p – ورکوونکې په توګه عمل کوي. کله چې دp - ډول سليکان نږدې دn - ډول سليکان شي د الکترونونو خپرېدل رامنځته کيږي، چې دلته د(p–n ) الحاق جوړښت رامنځته کوي.

د خپرېدو پروسه د سوري یا خالیګاه او الکترونونو بیا یوځای کېدل دي چې د p–n جوړښت کې واقع کيږي. د برېښنايي ساحې شتون د يو ډايوډ جوړولو لامل ګرځي چې جريان يوازې په يوه لوري کې تېريږي.د(ARC ) يوه نازکه شفافه پوښ یاطبقه ده چې د سليکان سطحې باندې د نور د انعکاس دکميدو او جذب دزیاتیدو له کبله د نور د ضايع کېدو د مخنيوي لپاره کارول کيږي. د دې طبقې په مرسته دنور د تېرېدو اندازه زياتيږي چې په نتیجه کې د سولر حجرو عمومي اغېزمنتيا ښه کيږي.

د سولر حجرو د n - او p- ټايپ برخو د نښلولو لپاره فلزي شبکه کارول کيږي چې بهرني بار سره وصل شي. کله چې فوتونونه پر حجرو ولګيږي په حجرو کې موجود بار وړونکي ذرات انرژي

ترلاسه کوي. برېښنايي ساحی الکترونونه او سوري  يا خالیگاوې چې بیلابیل چارج لرونکي ذرات دي له یو بل څخه جلا کوي. کله چې د  خارجي بار نښلونه تکمیل شي برېښنا تولید یږي.

د فوتوولتائیک(PV) لمریزې حجرې په جذب کوونکي طبقه کې د لمر وړانگې نیولو او برېښنايي انرژۍ ته د بدلون مهم رول لري. د دې طبقي فزیکي ځانگړتیاوې په ځانگړې توگه الکترونیکي ځانگړتیاوې لکه د انرژي تشه، د انرژي د چارج انتقالونکو ذراتو حرکت، د چارج انتقالونکو د ژوند وخت، د بیا یوځای کېدو مقدار، د ناخالصي اندازه او برېښنايي هدایت او همدارنگه نوري ځانگړتیاوې لکه د جذب اندازه، نورانعکاس ضریب، نوري د انرژي تشه، انعکاس او فوتولو مینسانس د لمریزې حجرې د اغېزمنتیا او عمومي کړنې د ارزونې لپاره ډېر مهم دي.

هغه مواد چې غیر زهري وي په پراخه کچه شتون ولري او د جذب لوړه اندازه يي $۱۰۵cm^{-۱}$ او مناسبه د انرژي تشه(۱.۵ev) ولري د PV جذب کونکي طبقې لپاره د پام وړ توجه ترلاسه کړې ده. سلیکان ، CZTS، CdTe، پرووسکایټ، کوانټم ډاټس او رنگین (dye-sensitized) حجرې بېلابېل هغه جذب کونکي مواد دي چې د PV لمریزې حجرې جذب کونکي طبقې په توگه کارول کیږي.

د PV نیمه هادي موادو د انرژي خالیگا معلومول ډېر مهم دي ځکه چې دا د نور هغه ځانگړې څپې اوږدوالي ښیي چې جذب کېدای شي.




د انعکاس ضد پوښ
کلک پوښ شیشه
چسپناکه شفافه
p-n د موادو نښلولو فلزی چوکاټ
n - ډول سیلیکان (الکترونونه)
p-ډول سیلیکان(سوري)
p- ډول سیلیکان(سوري)
د ملاتړ لپاره اساس
جریان

۱شکل: د PV نیمه هادي جوړښت

## ۴. د لمريزو حجرو نسلونه

د فوتوولتائيک حجرو نسلونه په لاندې توګه تشريح کېږي:

### ۴-۱- د فوتوولتائيک حجرو نسلونه

په تېرو لسو کلونو کې فوتوولتائيک تکنالوژي د انرژي د بدلون په بهير کې يو مهم رول خپل کړی دی. د موادو او د توليدي ميتودونو پرمختګونو په دې برخه کې اساسي ونډه لرلې ده. خو سره له دې لا هم ګڼ شمېر ستونزې شته چې له امله يې فوتوولتائيک تکنالوژي نشي کولی په بشپړ ډول پاکه او ارزانه انرژي وړاندې کړي. په همدې برخه کې څېړني پر هغو اغېزمنو فوتوولتائيک وسايلو تمرکز لري لکه څو پيونديزي حجرې، د ګرافين يا منځنۍ انرژي خاليګا لرونکې حجرې او د چاپ وړ لمريز مواد لکه کوانتم ډاټونه(Tsakalakos, 2010). د فوتوولتائيک حجرې اصلي دنده دا ده چې د لمر وړانګې د خالص نور په بڼه جذب کړي او په يو جريان يې بدلې کړي چې د فوتوولتائيک اغېز بلل کېږي، دا انرژي برېښنا ته واړوي. د فوتوولتائيک حجرو د توليد په بهير کې بېلابېل تخنيکونه کارول کېږي، چې پکې د موادو بدلون هم شامل دی، څو د حجرې په مختلفو برخو کې فوتو الکتريک بدلون مؤثريتونه ترلاسه کړي. د نوو غير دوديزو توليدي ميتودونو له راڅرګندېدو سره چې د فعاليت وړ لمريزې حجرې توليدوي، فوتوولتائيک تکنالوژي په څلورو عمده نسلونو وېشل شوې دي چې په ۲ شکل کې ښودل شوي دي(Almosni et al., 2018).




۲ شکل: د لمریزوحجروبیلابیل ډولونه او په دې برخه کې اوسني پرمختګونه (IRENA, 2023).

د فوتوولتائیک حجرو نسلونه اساساً د دې تکنالوژي د پرمختګ مرحلې بیانوي. د لمریزو حجرو له اختراع راهیسې په تېرو څو لسیزو کې دا تکنالوژي په څلورو اصلي کټګوریو یا نسلونوباندې ویشل شوېده، چې د فوتوولتائیک ټکنالوژي د پرمختګ تاریخ بیانوي (Sharma & Mishra, 2025).

## ۴-۲- دفوتوولتائیک حجرو لومړی نسل

دا کټګوري هغو فوتوولتائیک تکنالوژیو ته اشاره کوي چې د مونوکریستالین او پولي کریستالین سلیکان او د ګالیم آرسنایډ (GaAs) پر بنسټ ولاړې دي په سلیکان ولاړې فوتوولتائیک حجرې د لمریزې انرژي د تخنیکونو هغه لومړنی سکتور و، چې بازار ته وړاندې شو کوم چې د مایکرو

الکترونیک صنعت له لوري د چمتو شوو موادو او تولیدي تجربو څخه ګټه پورته کړه. اوس مهال د سلیکان پر بنسټ جوړې شوې لمریزې حجرې د نړۍ له ٪۸۰ څخه زیات نصبول شوې ظرفیت جوړوي او شاوخوا ٪۹۰ بازار یې نیولی دی. د نسبتاً لوړ مؤثریت له امله دا حجرې تر ټولو زیات کارېدونکې دي.

د فوتوولتائیک حجرو لومړی نسل له هغو موادو څخه جوړ شوي دي چې د سلیکان د ضخیمو کریسټالینو طبقو پر بنسټ ولاړ دي. دا نسل په لاندې ډول حجرې رانغاړي مونوکریسټالین، پولی کریسټالین، ملټي کریسټالین سلیکان او همداراز د III-V کورنۍ یو-پیوندیزی لمریزې حجرې لکه ګالیم آرسنایډ(IRENA2023), (Sharma & Goyal, 2020).

### ۴-۳- دلومړي نسل فوتوولتائیک حجرو مقایسه

د ذکر شوي نسل فوتوولتائیک حجرو مقایسه په لاندې توګه ترسره کوو:

#### ۴-۳-۱- د مونوکریسټالین سلیکان پر بنسټ لمریزې حجرې

مونوکریسټالین لمریزې حجرې د یو واحد کرسټال له سلیکان څخه جوړېږي ځکه یې جوړښت ډېر منظم او پاک وي. د همدې ځانګړنې له امله د دغو حجرو مؤثریت لوړ وي چې شاوخوا ٪۱۵ تر ٪۲۴ پورې رسېږي. د دوی بانډګیپ شاوخوا 1.1 eV دی چې د لمر د انرژي د اغېزمن جذب لپاره مناسب اندازه ګڼل کېږي. د دغو حجرو د ژوند موده نږدې ۲۵ کاله ده، چې د اوږدې مودې لپاره د ثبات او ښه فعالیت تضمین کوي. د دې ډول حجرو اصلي ګټې په لوړ فعالیت اوږد کاري عمر او د انرژي د تولید په ثبات کې نغښتې دي. سره له دې د تولید لوړ لګښت، د تودوخې لوړې کچې ته حساسیت، د رڼا د جذب ستونزې او د موادو ضایع کېدل یې مهم محدودیتونه دي.

#### ۴-۳-۲- د پولی کریسټالین سلیکان پر بنسټ لمریزې حجرې (P-Si)

پولی کریسټالین لمریزې حجرې د ګڼو کوچنیو سلیکان کرسټالونو له یوځای کېدو جوړېږي. د دوی د جوړښت منظم والی د مونوکریسټالین په اندازه نه وي له همدې امله یې مؤثریت نسبتاً ټیټ وي او د ٪۱۰ تر ٪۱۸ ترمنځ بدلون کوي. د دغو حجرو بانډګیپ شاوخوا 1.7 eV دی. د ژوند موده یې نږدې ۱۴ کاله ده، چې د مونوکریسټالین په پرتله کمه ده. د دوی اصلي ګټې په ساده تولیدي پروسه، ټیټ لګښت، د سلیکان د ضایعاتو په کمولو او د رڼا د جذب نسبي لوړې کچې کې دي. خو د ټیټ مؤثریت او لوړې تودوخې ته د ډېر حساسیت له امله یې کارونې محدودې شوې دي.

### ۴-۳-۳- د ګالیم آرسنایډ پر بنسټ لمریزې حجرې (GaAs)

د ګالیم آرسنایډ لمریزې حجرې د نیمه‌هادي موادو پر بنسټ جوړېږي او د مؤثریت له نظره د نورو ډولونو په پرتله ډېرې اغېزمنې دي. د دوی مؤثریت نږدې ۲۸٪ تر ۳۰٪ پورې رسېږي، چې د سوداګریزو لمریزې حجرو تر ټولو لوړه کچه ګڼل کېږي. د دوی باندګیپ شاوخوا ۱.۴۳eV دی، چې د لمریز طیف د انرژي د جذب لپاره ډېر مناسب دی. د دغو حجرو د ژوند موده شاوخوا ۱۸ کاله اټکل کېږي. د ګالیم آرسنایډ حجرو اصلي ځانګړتیا په لوړ مؤثریت او د ځانګړو شرایطو لپاره د ښه فعالیت په وړتیا کې ده، خو د تولید لوړ لګښت یې یو مهم خنډ ګڼل کېږي، ځکه له همدې امله د عامې استفادې پرځای زیاتره په ځانګړو برخو لکه فضایي ټیکنالوژۍ کې کارول کېږي. لوړ ثبات د حرارت کم حساسیت، د مونوکریستالین په پرتله غوره جذب او لوړ مؤثریت لري. ډېر زیات لوړ لګښت د لومړي نسل فوتوولتائیک حجرې په اصل کې د p-n الحاق یا یوځای کېدنې پر بنسټ ولاړې دي چې عمدتاً د مونوکریستالین یا پولی‌کریستالین سلیکان په پلیټونو ولاړې لمریزې حجرې پکې شاملې دي.

د مونوکریستالین سلیکان لمریزې حجرې له دې لارې جوړېږي چې له کوچنیو مونوکریستالین سلیکاني ټوټو څخه د سلیکان تختو ته وده ورکړل شي او وروسته دا تختې پرې کړل شي، څو د مونوکریستالین سلیکان پلیټونه جوړ شي. دا ټوټې د Czochralski پروسې په کارولو سره تولیدېږي. مونوکریستالین مواد له دې امله ډېر کارول کېږي چې د څوکریستالین موادو په پرتله لوړ مؤثریت لري.

په مونوکریستالین سلیکان کې اساسي تخنیکي ستونزې دا دي:

- د موادو د پاکوالي لپاره سخت معیارونه.
- د حجرې د تولید پر مهال د موادو لوړ مصرف.
- د تولیدي بهیرونو پېچلتیا.
- د دغو حجرو څخه جوړېدونکو ماډیولونو د اندازې محدودیتونه (Matsuyama, Nakamura, Nishiwaki, Fujita, & Maruyama, Year)
- د څوکریستالین سلیکان تختې ددې پروسې له لارې تولیدېږي چې لوړ پاکوالی لرونکی سلیکان ویلې کېږي او بیا د Directional Solidification په نوم یو لوري ته جامد کېږي چې په یوه لوی کریوسیبل (کڅوړه) کې ترسره کېږي په دې بهیر کې د کریسټال ځانګړې

جهت ټاکل شوې نه وي لکه څنګه چې د zochralski C پروسې کې وي له همدې امله د سلیکان مواد د بېلابېلو جهتونو سره تولیدېږي. د لمریزې حجرې لپاره تر ټولو ډېره کارېدونکې بنسټیزه ماده د بورون سره ناخالص شوې p – ټایپ سلیکان ( سبسټریټونه) ښیښې زیر لایې دي. د n - ټایپ سلیکان لاندنۍ لایه هم د لوړمؤثریت لرونکو لمریزې حجرو په جوړولو کې کارول کېږي، خو دوی نورې تخنیکي ستونزې هم لري لکه د p - ټایپ سبسټریټونو په پرتله د سلیکان تختې په اوږدو کې د یوشان ناخالصي ترلاسه کول .(Taguchi, Yano, & Tohoda, 2013)

## ۵. دوهم نسل لمریزې حجرې

د دوهم نسل لمریز حجرو اصلي هدف د تولید لګښتونه کمول دي، کوم چې د لومړي نسل حجرو لپاره یو لویه ستونزه وه. دا هدف د نازک فلم تکنالوژۍ په کارولو سره ترلاسه کېږي، چې پکې د موادو مقدار کم او کیفیت لوړول یې شامل دي.

### ۵-۱- آمورف سلیکان لمریزې حجرې

د ډېرزیات کریستالین ټکنالوژۍ ګران تمامېږي ځکه چې په هغوی کې خالص کریستالین سلیکان ډېر کارول کېږي. د خالص سلیکان ترلاسه کول یوه سخته او ګرانه پروسه لري. آمورف لمریز پینلونه د غیر کریستالین سلیکان د یوې طبقې په توګه پر یوه زیر لایه (لکه ښیښه، پلاستیک یا فلز) کېښودل کېږي، چې دا د مونو- یا پولی کریستالین لمریز پینلونو د کلک سلیکان د ډېر زیات کارولو سره توپیر لري. د اموف لمریز پینل د سلیکان طبقه اندازه کولای شي یوازې یو مایکرو میتر وي، چې دا د انسان د ویښتانو له قطر څخه ډېر کوچنی دی. د لمریزو حجرو بیه د دې ډول نازک سلیکان طبقو په کارولو سره کمېدای شي چې یوازې ۱ مایکرو میتر ضخامت ولري.د ډېر زیاتوالي پر بنسټ تیکنالوژۍ په پرتله د نازک فلم ټکنالوژۍ خورا لږ مقدار سلیکان کاروي.د a-Si نازک فلم جوړولو لومړنۍ هڅه د R. Chittick لخوا شوې وه ,Lin & Ravindra) .(Ghosh & Yadav, 2021) 2020), د a-Si نازک فلم لمریزې حجرې د دې له امله چې په ټیټه بیه بریښنا تولیدوي او لږ سلیکان کاروي د فوتوولتائیک څېړونکو پام ځانته راګرځولی دی (Ahamed, Gupta, Qamruzzaman, & Matin, 2019).

a-Si (امورف سلیکان ) د کریستالین پر بنسټ لمریز پینلونو په پرتله د مقاومت د تودوخې غوره ضریب لري او د نورو نازک فلم لرونکو حجرو په پرتله د سیوري پر وړاندې ښه مقاومت ښیي. په

يوه عادي PN تړون لرونکي لمریز حجره کې  د فوتون جذب له امله د اقليت انتقالونکې توليد کېږي چې دغه انتقالونکي د P او N سيمو په اوږدو کې د تړون له يوې پايلې څخه تر بلې پورې خپرېږي هلته چې نوري جذب پيښيږي. دخپريدلو پروسه د لويو اوږدو ليونو په شتون کې ترسره کيږي چې معمولا شـــاوخوا ۲۰۰مايکروميتروي. خو په يوه a-Si لمريز حجره کې د لږکي چارج کونکو difusion اوږدوالی ډېر محدود وي، شـــاوخوا ۰.۱مايکرومتر اندازه لري. له همدې امله يوازې د نفوذ يا خپريدو په مرســـته د لږ چارج کونکي را يوځای کيدنه  ناشـــوني کيږي (Li, Aierken,Liu,Zhuang,etal.,2021).

د حجرو د تودوخې له زياتيدو سره د اغېزمنتيا کموالی نســبتاً لږ دی، چې دا د a-Si حجرو د ټيټ بريښــنا د تودوخې ضريب (۰.۱-۰.۲٪ فيصـده پر يوه درجه ســانتي ګراد وي) له دې امله د نازک فلم ټکنالوژي د څو الحاقونه ، هيټرو پيوند او هموپيوند لمريزو حجرو په جوړولو کې هم کارول کيږي. د نازک  فلم لمريزې حجرې ټکنالوژي زياتې ګټې لري چې مخکښيو څېړنو لخوا ښــودل شوي دي(Efaz, Rahman, et al., 2021).

د موادو لږ اســتعمال د انرژي د بيرته ورکولو وخت کمښــت لږ پاتې شــوني فا ضله مواد د يوځای کولو وړتيا او په يوه واحد کې مدغم کېدل د لويې ســـطحې لرونکو واحدونو کارول د ښـــه تطابق لپاره د موادو ځانګړتياوو بدلول د ماډيولونو دننه د فضـــا د کاروني ښـــه ترتيب دټيټ حرارت په ځانګړتياوو سره د پروسو پلي کول د شفافو واحدونو جوړول ممکن دي.

د پورتنيو واردو له امله دا ټکنالوژي زياته  جذابه دی  خو د هغې اغېزمنتيا له ۱۰٪ څخه تر ۱۳٪ پورې ده  چې نسبتاً ټيټه ده(Wu et al., 2020).

## ۵-۲- د دويم نسل فوتوولتائيک حجرو مقايسه

### ۵-۲-۱- د اموروف سليکان پر بنسټ لمريزې حجرې(Amorphous Silicon Solar Cells, a-Si):

اموروف سليکان د لمريزې حجرو هغه ډول دی چې کرستالي جوړښت نه لري او د غير منظم جوړښت له امله يې توليدي لګښت ټيټ وي. د دغو حجرو مؤثريت  د ۵٪ تر ۱۲٪ پورې رسېږي او د بانډګيپ اندازه  يې شاوخوا 1.7 eV دی. د عمر اوږدوالی نږدې ۱۵ کاله اټکل کېږي. د دې ډول حجرو اصلي ګټې  ټيټه بيه، د موادو په پراخه شتون، د زهريت نشتوالي او د نور د جذب په لوړ ضريب کې نغښتي دي. سره له دې د ټيټ مؤثريت ، د ګډېدونکي موادو د ټاکلو ستونزه د اقليت

بار وړونکو د ژوند کمښت او د اوږدمهاله ثبات نشتوالی یې مهم محدودیتونه ګڼل کېږي ,(Kowalski et al., 2005)(اذرم، ۱۹۹۶).

### ۵-۲-۲- د کادمیم ټیلوراید/کادمیم سلفاید پر بنسټ لمریزې حجرې ( Cadmium Telluride / Cadmium Sulfide Solar Cells, CdTe/CdS)

دغه ډول لمریزې حجرې د ۱۵٪ تر ۱۶٪ پورې مؤثریت لري او د (بانډګیپ) دانرژی ممنوعه ساحی اندازه یې شاوخوا 1.45 eV دی. د ژوند موده یې نږدې ۲۰ کاله ده. د دې حجرو مهمه ګټه د رڼا د جذب لوړ ظرفیت دی، ځکه لږ ضخامت هم د کافي انرژي د تولید لپاره بسنه کوي. د تولید لپاره یې د موادو لږ اړتیا دا ډول حجرې اقتصادي ګرځوي. سره له دې د کادمیم ډېر زهري کېدل د ټیلوریم کموالی او د تودوخې لوړې کچې پر وړاندې د حجرو حساسیت د دوی له اصلي ستونزو څخه دي. د همدې دلیل له امله که څه هم اقتصادي دي، خو د چاپېریال د ککړتیا اندېښنې یې د پراخ استعمال مخه نیسي(Zhao et al., 2022), (Kuczyńska-Łażewska et al., 2021) .

### ۵-۲-۳- د مس-انډیم-ګالیم-سیلینایډ پر بنسټ لمریزې حجرې ( Copper Indium Gallium Selenide Solar Cells, CIGS)

CIGS لمریزې حجرې د نیمه‌هادي مرکبونو پر بنسټ جوړېږي او د لوړ مؤثریت له امله ډېرې ارزښتمنې ګڼل کېږي. د دوی مؤثریت نږدې ۲۰٪ دی، چې د نری‌فلم لمریزې تکنالوژي په ډله کې لوړه اندازه ښئ. د بانډګیپ اندازه یې شاوخوا 1.7 eVدی او د ژوند موده نږدې ۱۲ کاله اټکل کېږي. د دې حجرو مهمه ګټه دا ده چې د تولید لپاره لږ موادو ته اړتیا لري، چې د لګښت په برخه کې یو نسبي امتیاز ګڼل کېږي. خو د لوړې بیې، ناپایدارتیا د تودوخې پر وړاندې د لوړ حساسیت ستونزې د دې ټیکنالوژۍ د عملي پراختیا لپاره لوی خنډونه دي(Crabtree & Lewis, 2018).

## ٦. دریم نسل لمریزې حجرې

لمریزو حجرو د خپلو فعالیتونو د ښه کولو لپاره درې دورې پرمختګونه کړي دي څو د لمر نور په اخیستلو کې اغیزمنتیا لوړه کړي. د اقتصادي ګټې د زیاتولو لپاره څېړونکي اوس مهال د فوتوولټاییک (PV) په مختلفو برخو په پرمختګ باندې تمرکز کوي لکه څو-پیوندیزې لمریزې حجرې، متوسط انرژي تشه حجرې، پروسکایټ مواد، متمرکز شوي لمریز حجرې او چاپیدونکې لمریزې حجرې لکه کوانتم ټکې. دریم نسل PV حجرې ټکنالوجي داسې واحد پیوند لمریزې حجرې رانغاړي چې د شاکلي-کوایسر حد (۳۱٪–۴۱) څخه د بریښنا فعالیت لوړولو وړتیا لري. د

فعالیت د ښه کولو لپاره ضروري ده چې په لمریزه حجره باندي لګیدونکي نور ټول فوتونونه جذب کړي. د دې ستونزې حل د یواځې دیوي لمریزې حجرې په توان کې نه دی. له همدې امله څو پیوندیزي لمریزه حجري د دې ستونزې لپاره یو احتمالي حل ګڼل کیږي. په عمومي ډول دریم نسل لمریزې حجرې په لاندي ډول وېشل کیږي:

۱ .څو پیوندیزي لمریزه حجره(Multiple Junction Solar Cell - MJSC)

۲ .کوانټم نقطه لمریزې حجرې(Quantum Dot Solar Cells - QDSC)

۳ .په رنګ حساس شوي لمریزې حجرې(Dye-Sensitized Solar Cells - DSCC)

۴ .پروسکایټ لمریزې حجرې(Perovskite Solar Cell - PSC)

۵ .متمرکز شوې فوتوولتاییک(Concentrated PV - CPV)

## ٦-۱- دریم نسل فوتوولتائیک حجرې:

د لمریزو حجرو دریم نسل چې پکې ټنډیم، پیرووسکایټ، د رنګ حساسه شوي(DSSC)، ارګانیکي او نورې نوې طرحې شاملې دي بېلابېل تخنیکونه او مفکورې رانغاړي. دا تخنیکونه له ارزانه، خو ټیټ مؤثریت لرونکو سیستمونو لکه DSSC او ارګانیکي حجرې څخه نیولي تر هغو ګران بیو خو لوړ مؤثریت لرونکو سیستمونو پورې رسیږي لکه III-V څو پیوندیزي حجرې چې په فضایي برخو کې کارول کیږي. دریم نسل حجرې ډېر وخت د نوې مفکورې بلل کېږي، ځکه چې که څه هم پر ځینو یې له ۲۵ کلونو زیاتې څېړنې رواني دي خو بیا هم بازار ته یې محدود لاسرسی شوی دی(IRENA, 2023).

په سلیکاني لمریزو حجرو کې تازه پرمختګونه د نیمه هادي موادو د انرژی تشه کې د اضافي انرژي کچو رامنځته کولو طریقې ته متوجه شوي دي. تولیدي تکنالوژي او مؤثریت ښه والي نوې څېړنې همدا اوس په دریم نسل لمریزو حجرو ته متمرکزې دي.

اوس مهال یو له نوو طریقو څخه د فوتوولتائیک حجرو د مؤثریت لوړولو لپاره د نیمه هادي موادو په (بانډګیپ) دانرژی خالي ساحه کې د اضافي انرژي اندازه (IBSC) او IPV حجرې معرفي کول دي او د تولید په پروسه کې د آیون ځای پرځای زیات کارول دي. نور نوښتګرخولې پیژندل شوي تجارتي "راټوکېدونکي" تخنیکونه یې په لاندي ډول دي(IRENA 2023).

### ٦-۲- په رنگ حساسه شوې فوتوولتائيک حجرې(DSSC) :

ددې لمريزو حجرو مؤثريت: ٪۵ – ٪۲۰ دی . دېرمختللو تکنالوژيو څخه شميرل کيږي .گټې يې ټيټه بيه، د کم نور او پراخي زاويې سره کار کول د تودوخې په ټيټه اندازه کار کول، کلکوالی او اوږد عمرلري.همدارنگه محدوديتونه يې د تودوخې د ثبات ستونزې، زهرجن اوپه بخار بدليدونکي مواد دي .

### ٦-۳- د کوانټم ډاټ فوتوولتائيک حجرې(QD)

ددې لمريزو حجرو مؤثريت: ٪۱۱ – ٪۱۷او گټې يې د توليد ټيټه بيه، ټيټه انرژي مصرف ، انعطاف منونکی اود نور زيات جذب لرونکې دي. په همدې ډول ددې حجرو محدوديتونه زرجن طبيعت، تخريب چې تر اوسه دڅيړنو او ازمايښتي حالت کې قرار لري( Rehman, Syed, et al., 2023 ) .

### ٦-۴- عضوي او پوليمريک لمريزې حجرې:(OSC)

دا د دريم نسل لمريزو حجرو څخه دي چې مؤثريت يې ٪۹ - ٪۱۱ دی . گټې يې د ټيټې پروسس لگښت، سپک وزن، انعطاف، حرارتي ثبات چې تر ۸۵ درجې دسانتي گراد پوري خپل لومړنی موثرئت ساتلو توان لری، محدوديتونه يې د ټيټ مؤثريت لرونکې دي( Wuet al., 2020) .(Rehman, Syed, et al., 2023)

### ٦-۵- پيرووسکايټ لمريزې حجرې:

د نن ورځ په نړۍ کې تر ټولو چټک پرمختگ کوونکې حجری دي چې مؤثريت: ٪۲۱ دی.گټې يې ټيټه بيه، ساده جوړښت، سپک وزن، انعطاف، لوړ مؤثريت ، ټيټ توليدي لگښت همدارنگه محدوديت يې بې ثباتې دی. عمر يې تراوسه ندی ټاکل شوی . نوموړي لمريزې حجرې ددې نسل تر ټولو مهمه او ښه تکنالوژې دی( Wuet al., 2020 Rehman, Syed, et al., 2023).

### ٦-٦- څو پيونديزې لمريزې حجرې:

دا لمريزې حجرې پراخه اندازه نور جذبوي مؤثريت يې ٪۳٦ يا زيات دی چې فضايې تکنالوژې کې استفاده کيږي څکه د کمې ساحی څخه زياته بريښنا توليدوي، لوړ فعاليت مگر څينې محدوديتونه هم لري چې پيچلې تکنالوژې او گرانې دي.

## ۷. څلورم نسل لمريزو حجرو ټکنالوژي

د "هايبريد غيرعضوي حجرو" اصطلاح اکثره د څلورم نسل فوتوولټائيک حجرو لپاره کارول کېږي. دغه حجرې د دې وړتيا لري چې د پوليمرنری فلمونو د ټيټ لګښت او تطبيق وړتيا د عضوي نانو جوړښتونو لکه فلزي نانوذراتو، فلزي آکسايډونو، کاربن نانوټيوبونو، ګرافين او د څو فعاليتي سيستمونو پر اساس جوړشوي دی. دغه نانوفوتوولټائيک برخې کولای شي د شمسي ټکنالوژي لپاره يو نوي هيلهبښونکي دوره راولي (Wuet al., 2020), (Mamgai et al., 2012).

### ۷-۱- د کاربن نانوټيوب پربنسټ لمريزي دوه بعدي حجرې:

د دوهبعدي موادو لکه موليبدينم ډای سلفايډ($MoS_2$) ، ګرافين، ټنګستين ډای سلفايډ(WS2) او ټنګستين ډای سيلينايډ (WSe2) استثنايي نوري ځانګړتياوې، کوچني قطرونه او ټيټ وزن د څلورم نسل فوتوولټائيک ټکنالوژي په برخه کې ډېر پام ځانته اړولی دی. د دې دوهبعدي موادو ميخانيکي قوت، د بانډګيپ تنظيمېدونکي وړتيا، شفافيت، ښه تودوخه او برېښنايي هدايت، لوړ چارج انتقال وړتيا؛ د کوانټوم هال اغېزه او مقناطيسي انيزوټروپي(anisotropy) پېژندل شوي ځانګړتياوې دي (Rehman, Syed, et al., 2023), (Hasan et al., 2018).

د خپلو غوره نوري او برېښنايي ځانګړتياوو له امله کاربن نانوټيوبونه(CNTs) د شمسي حجرو په جوړولو کې ډېر هيلهبښونکي مواد ګرځېدلي دي. CNTs معمولاً په شمسي حجرو کې د نازکو فلمونو په توګه يا د فعالو طبقو په منځ کې کارول کېږي چې د چارج انتقال طبقې يا د الکترود د انترفېس طبقې په توګه د چارج د استخراج لپاره مرسته کوي (Wieland, Li, Rust, Chen, & Flavel, 2021), (Wang et al., 2017).




۳ شکل: د کاربن نانوټيوب پر بنسټ شمسي حجرې جوړښت.

## ۸. یو واحد دیواله کاربن نانوټیوب(SWCNT):

په دې انځور کې د هادي الکترودونه عموماً د انډیم ټین اکساید (ITO) پوښل شوي وي، چې بیا پرې د ۴۰ نانومیتر نری فرعي طبقه د پولی(۳,۴-ایتیلین ډای اوکسي تیوفین) (PEDOT) او پولی(ستایرین سلفونیت)(PSS) څخه جوړه شوي وي. PEDOT او PSS د ITO سطحې نرمښت لوړوي، چې له امله یې د خالیګاوو(pinholes) شمېر کمېږي او د جریان د لیکېدو د مخنیوي لپاره د شارټ کیدونکو لارو ستونزه حل کېږي ( Abohamzeh, Sheikholeslami, Al Hajaj, & Saghir, 2021).

کاربن نانوټیوبونه (CNTs) د مختلفو ډولونو شمسي حجرو کې کارېدلی شي لکه د سلیکان شمسي حجرې، رنګ حس کوونکي شمسي حجرې، عضوي شمسي حجرې او پیرووسکایټ شمسي حجرې چې دا د فعالي طبقې د موادو پر اساس تاکل کېږي (Qian, Xie, Zhang, & Zhang, 2020) (Liang, Li, Ye, & Zhu, 2023) (Jiang, Zheng, Qin,). یو تجربه ترسره کړه ترڅو د CNTs- spiroطبقې د شاملولو اغېز د رنګ لرونکو کاربن پر بنسټ PSCs په انرژي بدلون مؤثریت (PCE)باندې و ارزوي. څېړونکو موندلې چې د CNTs-spiro طبقې لرونکي PSCs مؤثریت ۱۰.۴۵٪ ؤ، چې د دې طبقې پرته PSCs په پرتله (۸.۶۲٪) کې ۱۷.۵۱٪ زیاتوالی ښیي.

(Zhao, Xu, Wu, et al., 2022) د $TiO_2$ پوښلو او $HNO_3$ یوځای کولو ترکیب استعمال کړ ترڅو د شمسي حجرو مؤثریت له ۱۸٪ څخه لوړ کړي، چې د فعاله ساحې ۰.۰۹ سانتي‌متره مربع لاندې او د هوا د کچې ۱.۵ او د ۱۰۰ $mW/cm^2$ وړانګې کثافت د معیاري شرایطو لاندې ترسره شو. د آکسایډ پیاوړو شویو کاربن نانوټیوب-سلیکان شمسي حجرو یوځای کول د راتلونکي پرمختللي سلیکان پر بنسټ PV سیستمونو د جوړولو لپاره یوه ژمنه‌بښونکې لاره ده. دغه حجرې د دودیزو نیمه هادیو او نوي نانوجوړښتونو ګټې یو ځای کوي، چې د لوړ فعالیت لرونکو فوتوولټائیکس ټکنالوژیو ترلاسه کولو لپاره یو ممکنه لار برابروي.

د ټری فلیک اسید مخلوط شوي CNTs د پیروسکایټ شمسي حجرو کې د شفافو الکترودونو په توګه د خپلو فلزي سیالانو په پرتله غوره فعالیت ښیي چې د ۱۸.۸٪ PCE ترلاسه کولو سره یې دا ثابته کړې (Jeon, Shawky, et al., 2020).

## ۹. د لمریزو حجرو د بیلابیلو نسلونو پرتله

د فوتوولتائیک(PV) لمریزو حجرو مؤثریت یا حاصل ورکونه د موادو او جوړښت د بدلون له لارې د بیلابیلو تکنالوژیو په مرسته لوړېدای شي. د نوو موادو کارول دا هدف لري چې د رڼا د حس کوونې وړتیا، د چارج انتقالونکي ذراتو تولید، د سپک طیف جذب، انعطاف‌پذیري او اوږدمهاله پاېښت لوړ کړي او په عین حال کې د تخریب کچه، انرژي ضایعات د تولید لګښتونه راکم کړي. یو بل مهم اړخ د چاپېریال سره د دوستانه موادو کارول دي.

په راتلونکي کې تمه ده چې د نوښتګرو لمریزو تکنالوژیو بازار ته پراخې ونډې پیدا کړي. ۴ شکل د ۲۰۳۰ کال لپاره د مختلفو لمریزو PV ماډیولونو د تکنالوژیو له مخې وړاندې شوی ویش ښیي. تر ۲۰۳۰ کال پورې به د کرستالین سیلیکان ونډه له ٪۹۰ څخه ٪۷۰.۴ ته راټیټه شي (Pastuszak & Węgierek, 2022), (Bahaidarah et al., 2013).



۴ شکل: د فیصدي په اساس د لمریزو حجرو تولید.

د سیلیکان پر بنسټ(C-Si) ، ٪ ۴۴.۸۰) په کې شامل دي:

مونو، پولي او(a-Si کریستالاین سیلیکان) پرمختللي(c-si٪ ۲۵.۶۰)، د CIGS بدیلونه، درانه فلزات لکه پرووسکایټ، پرمختللي III-V، ٪ ۹.۲۰، عضوي Dye-sensitised/ PV حجرې(OPV)، ٪۸.۷۰، د مسو ـ انډیم ـ ګالیوم (ډای) سیلینایډ پر بنسټ نری فلم(CIGS)، ٪ ۶.۴۰ ، د کاډمیم ټیلوراېډ پر بنسټ نری فلم(CdTe)، ٪ ۴.۷۰، د لمر تمرکزي لمریز بریښنا(CPV) ، ٪۰.۶۰.

۲ جدول د لمریزو حجرو د پرله‌پسې نسلونو ترمنځ د مؤثریت، لګښت، انرژي ممنوعه ساحی، د لوړو تودوخو لاندې فعالیت د موادو د استفادې او نورو ګټو او زیانونو له اړخه یو پراخه تحلیلي پرتله وړاندې کوي.

## ۱۰. دلمریزو حجرو دنسلونو ترمنځ مقایسوي جدولونه:

۲ جدول د فوتوولتائیک حجرو د پرلپسي نسلونو ترمنځ هر اړخیز مقایسوي تحلیلي جدول

| نسل | کاربدونکي مواد | نیمګړتیاوي | ګټې | د تودوخي فعالیه | باندګیپ (eV) | بیه/لګښت | مؤثریت (%) | د حجرې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړی نسل | مونوکریستالین سیلیکان | لوړ لګښت، ضایعات | لوړ مؤثریت ، پراخ شتون | ۱۰–۱۵٪ کمښت | ۱۱.۱ | د pc په پرتله ګراني | ۲۰–۲۲ | مونوکریستالین (mc)لمریز حجرې |
| لومړی نسل | پولی‌کریستالین سیلیکان | کم مؤثریت ، زیات ځای | ارزانه، ثبات، ټیټ زهریت | ۲۰٪ کمښت | ۱۲.۱ | د mc په پرتله ارزانه | ۱۵–۱۷ | پولی‌کریستالین (pc)لمریز حجرې |
| دویم نسل | اموروف سیلیکان | کم مؤثریت | لږ مواد، انعطاف | کم بدلون | ۷.۱ | ارزانه | ۱۰–۱۲ | اموروف سیلیکان (a-Si) لمریز حجره |
| دویم نسل | کیډمیم، تیلوراید | زهریت، کم مؤثریت | ټیټه بیه، لوړ جذب | چټک کمښت | ۵.۱ | ارزانه | ۶.۱۸ | کیډمیم تیلوراید (CdTe) |
| دویم نسل | مس، اندیم، ګالیم، سیلیناید | ګران، زهري | لوړ جذب، ښدیم امکان | ثابت مؤثریت | ۵۵.۱ | ارزانه | ۸.۲۰–۳.۲۲ | مس اندیم ګالیم سیلیناید (CIGS) |
| دویم نسل | مس، زینک، ټین، سلفاید | کم مؤثریت | لوړ جذب، ښه ثبات | کمېږي، جریان زیات | ۴.۱ | ارزانه | ۱۰ | مس زینک ټین سلفاید(CZTS) |
| دریم نسل | ګالیم اندیم فاسفاید، اندیم ګالیم آرسناید | پیچلتیا، لوړ لګښت | لوړ مؤثریت | کم حساسیت | ۶۷.۰–۸۸.۱ | ډېر ګران | ۳۴–۱.۴۷ | څو-جنکشن لمریز حجرې (MJSC) |

## ۱۱. دویمه برخه: د درېیم او څلورم نسل فوتوولټائیک حجرو مقایسوي تحلیل

جدول: د درېیم او څلورم نسل شمسي حجرو پرتلیز تحلیل

| نسل | کاربدونکي مواد | نیمګړتیاوي | ګټې | د تودوخي فعالیه | باندګیپ (eV) | بیه / لګښت | مؤثریت (%) | د حجرې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| درېیم نسل | CdS، CdSe، PbS، PbSe، Ag2S | شدید زهریت، چاپېریال ته خطرناک | لوړ جذب، باندګیپ تنظیمېدونکی، سپک | په زیاتېدونکي تودوخي سره دوامداره کمښت | ۳.۱–۵.۲ | ټیټ لګښت | ۱۰–۱۵ | کوانتم ډاټ لمریزي حجرې (QDSC) |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دریيم نسل | TiO2، Redox couple، TCO | زهري الکترولایت، ټیټ مؤثریت ، د تودوخي او رطوبت پر وړاندي حساس | په کم نور کې کار کوي، ارزانه مواد، اسانه تولید، انعطاف | په زیاتېدونکي تودوخي سره دوامدار کمښت | ۳.۱–۲.۲ | د موادو او تولید ټیټ لګښت | ۱۳ | د رنګ حساسه لمریزي حجري (DSCC) |
| دریيم نسل | $Cs^+$، $Cl$،$Pb^{2+}$ | د پراخي کاروني لپاره بې ثباته | ټیټه بیه، اسانه تولید، لوړ جذب، باندګیپ تنظیمېدونکی | په زیاتېدونکي تودوخي سره کمېږي | ۵.۱–۳.۲ | د دوديزو حجرو له نیمایي ارزانه | ۲۲–۲۵ | پیرووسکایټ لمریزي حجري (PSC) |
| دریيم نسل | GaAs، CdTe، CIGS، شیشه | لوړ ناکامی کچه، زهریت، PCE | لوړ مؤثریت ، کوچنی سطح، چاپېریال ته دوستانه | په لوړو تودوخو کې کمزوری فعالیت | ۴.۱–۵.۱ | ټیټ لګښت | ۷–۲۵ | متمرکز فوتوولټائيکس (CPV) |
| څلورم نسل | $WO_3$، $MoS_2$، $TiO_2$ | ټیټ مؤثریت ، کم بدلون اغېزمنتیا | ثبات، ډېر نري، انعطافپذیر، پراخ جذب، باندګیپ تنظیمېدونکی | په زیاتېدونکي تودوخي سره کمېږي | ۳.۰–۷.۲ | ټیټ لګښت | ۷–۸.۱۸ | کاربن نانوتیوب لمریزي حجري (CNT) |
| څلورم نسل | ګرافین | کم ثبات، کم مؤثریت | ډېر اړخيز، اقتصادي، لوړ جذب، انعطافپذیر، سپک، شفاف | په زیاتېدونکي تودوخي سره کمېږي | ۴۲.۱ | لوړ لګښت | ۱۲–۶۵.۱۸ | ګرافین لمریزي حجري |

## ۱۲. برېښنايي او نوري ځانګړتیاوې

په۳ دریيم جدول کې د هغو مختلفو جذبوونکو موادو برېښنايي او نوري ځانګړتیاوې ښودل شوي چې د فوتوولټائيک لمریزو حجرو په جوړښت کې کارول کېږي. دا مواد لکه پیروسکایټ، کوانټم ټکي په رنګ‌حساس مرکبات، ګرافین او د کاربن تیوبونو، د دې لپاره کارول کېږي چې د حجرو مؤثریت له اوسني حد څخه پورته یوسي.

دغه پرمختللي مواد داسې ځانګړتیاوې لري چې د حجرو فعالیت ته وده ورکوي؛ په شمول د انرژۍ تشه، د نور د جذب ضریب، د چارج انتقالونکو ذراتو حرکت، د لمریزي حجري اعظمي توان یا ډکوالي فکتور، د بیا یوځای کېدو اندازه، د انکسار ضریب او نور تخنیکي خواص. یعني دا ټولې ځانګړتیاوې یو ځای د دې باعث کېږي چې لمریزې حجرې لا مؤثرې، چټکې او د انرژۍ په تولید کې ډېرې باوري شي.

۳ جدول: د فوتوولتائیک لمریزو حجرو د موادو الکترونیکي او نوري ځانګړتیاوې

| ځانګړتیا | کاربن نانوټیوبونه (CNT) | ګرافین | CIGS لمریزي حجرې | CdTe لمریزي حجرې | پروفوسکایټ لمریزي حجرې | کریسټالین سیلیکان (c-Si) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **الکترونیکي ځانګړتیاوې** | | | | | | |
| د بانډګیپ انرژي | 0.3–2.7 eV | 0 eV | 1.55 eV | 1.5 eV | 1.5 – 2.3 eV | 1.1 eV |
| د بار وړونکو خوځښت | ~100,000 $cm^2/V\cdot s$ | ~200,000 $cm^2/V\cdot s$ | ~100–300 $cm^2/V\cdot s$ | ~320 $cm^2/V\cdot s$ (الکترونونه) | ~10–30 $cm^2/V\cdot s$ | ~1350 $cm^2/V\cdot s$ (الکترونونه) |
| د بار وړونکو عمر | ~100 ps–1 ns | ~1 fs | ~1–10 ns | ~2–10 ns | ~1 µs | ~1–10 ms |
| د بار وړونکو خپرېدو واټن | ~100 nm–1 µm | ~1–5 µm | ~1–5 µm | ~1–5 µm | ~1 µm | ~100–300 µm |
| د خلاص سرکټ ولتاژ | 0.6–0.9 V | 0.7–1.0 V | ~0.7–0.8 V | ~0.85 V | 1.0–1.2 V | 0.6–0.7 V |
| ډکوالي فکتور (FF) | 0.6–0.8 | 0.6–0.85 | 0.7–0.8 | 0.7–0.8 | 0.75–0.85 | 0.75–0.85 |
| د بیا یوځای کېدو کچه | منځنۍ | ډېره ټیټه | منځنۍ | منځنۍ | منځنۍ | ټیټه |
| **نوري ځانګړتیاوې** | | | | | | |
| د جذب ضریب | ~$10^5$ $cm^{-1}$ | ~$10^5$ $cm^{-1}$ | ~$10^5$ $cm^{-1}$ | ~$10^5$ $cm^{-1}$ | $10^4$–$10^5$ $cm^{-1}$ | ~$10^4$ $cm^{-1}$ په 1.1 µm کې |
| د جذب ساحه | 200–1800 nm | 200–2500 nm | 300–1200 nm | 400–860 nm | 300–850 nm | 300–1100 nm |
| انعکاسي ضریب | 1.4–1.9 | ~2.6 | ~2.4 | ~2.7 | ~2.3 | ~3.4 |
| رڼا بندول | د سطحي پلازمون ریزونانس | شفاف الکترودونه د پلازمونیک اغېزو سره | سطحي جوړښت د اغېزمنتیا لپاره | د نری فلم له لارې رڼا بندول | د پرتونو سره د رڼا بندول | سطحي جوړښت د انعکاس کمولو لپاره |
| د فوتولومینسانس اغېزمنتیا | لوړه | ټیټه | منځنۍ | منځنۍ | لوړه | ټیټه |

## ۱۳. بحث او مناقشه

فوتوولتائیک (PV) ټکنالوژي د نوی کیدونکو انرژیو تر ټولو مهمه او مخکښه سرچینه ګڼل کېږي، ځکه چې دا د انرژي د زیاتېدونکي تقاضا پوره کولو، د فوسیلي سون‌توکو پر تکیې د کمولو او د نړیوال اقلیم د بدلون د راکمولو په برخه کې بنسټیز رول لري. وروستي پرمختګونه د دې سبب شوي چې لمریزې حجرې د لوړ حاصل، ټیټ لګښت، لږ وزن، ښه ثبات او د چاپېریالي خوندیتوب له ځانګړتیاوو سره وده وکړي. څېړنې ښیي چې د PV ټکنالوژي د نسلونو پرمختګ د موادو په انتخاب،د جوړښت په میتودونو، او د فوتوالکتریک حاصل په کچه پورې تړلي ده. لومړی نسل د سیلیکان حجرو پر بنسټ باندې ولاړ دی، چې د حاصل په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري او لا هم د نړیوال بازار ډېره برخه نیسي. دوهم نسل د نري فلم تکنالوژي کاروي، چې د موادو لږ مصرف او د تولید ټیټ لګښت یې ځانګړنه ده، خو د حاصل کچه یې د سیلیکان حجرو په پرتله محدوده ده. دریېم نسل د نوښتګرو مفکورو پر بنسټ ولاړ دی لکه عضوي مواد، پیروفسکایټ، کوانټم ډاټ، رنګ-حساس حجرې او د څوطبقي جوړښتونه، چې د لوړ حاصل او انعطاف وړ کارونې په برخه کې سترې هیلې زېږوي. څلورم نسل بیا د ګرافین او نورو پرمختللو نانوموادو پر بنسټ دي، چې د پخوانیو نیمګړتیاوو د اصلاح ترڅنګ د انعطاف وړ وسایلو، BIPV سیستمونو وړ ټکنالوژیو لپاره عملي حل لاري وړاندې کوي.

سره له دې چې د مونوسیلېکان حجرو اعظمي حاصل نږدې ۲۶.۶٪ ته رسېدلی او لا هم په نړیوال بازار کې د پام وړ سیالي لري، خو د نوو جوړښتونو لکه څوطبقو لرونکو حجرو څېړنې ښیي چې د لا لوړ مؤثریت ترلاسه کولو امکان شته، که څه هم د تولید لوړ لګښت او پېچلتیا یې د تجارتي کېدو مخه نیسي. نانوتکنالوژي په دې برخه کې ځانګړې ونډه لري، ځکه چې د نانو موادو ځانګړې فزیکي او الکترونیکي ځانګړتیاوې کولای شي د اوسنیو محدودیتونو مخه ونیسي او د لمریزې انرژي په تولید کې بنسټیز بدلون راولي. د موادو طبیعي تجزیه کیدونکې ځانګړتیا، د چاپېریال سره همغږي، او د تولید بهیرونو ساده کول هغه فکتورونه دي چې د راتلونکي لپاره به د PV تکنالوژي عملي او اقتصادي پراختیا تضمین کړي. دلته دریېم نسل لمریزي حجرې نسبت نورو نسلونو ته د تجارت له نظره او د الکترونیکي اپتیکي ځانګړتیاوو او ضریبونو په پرتله ترټولو بهترین نسل دي.

په ټوله کې ویلای شو چې د فوتوولتائیک تکنالوژي راتلونکی د نیمه هادي موادو د اصلاح، د نوي نانوموادو د کارونې او د تولید بهیرونو په معیاري کولو پورې تړلی دی. هر نسل ځانګړې ګټې او محدودیتونه لري، نو د انتخاب پر مهال باید د اړتیاوو او امکاناتو پر بنسټ پرېکړه وشي. دریېم او څلورم نسل تر ټولو زیاتې هیلې بښونکې دي، ځکه چې د لوړو حاصلونو او نوې کارونې ساحو لپاره ستر پوتنشل لري، خو د بشپړ تجارتي کولو لپاره لا زیاتې څېړنې او پرمختګ ته اړتیا شته. له

همدې امله فوتوولتائیک ټکنالوژي نه یوازې د نوي کیدونکو انرژیو تر ټولو ستره لاسته راوړنه ده، بلکې د نړیوالې انرژي امنیت او د اقلیم د بدلون پر وړاندې د مبارزې یوه بنسټیزه حل لاره هم ګڼل کیږي. ددې څیړنې څخه دې نتیجې ته رسیږو چې تر ټولو نسلونو څلورم نسل لوړ نظري موثریت لري مګر عملي تطبیق یې محدود او زیاتو تجربو ته ضرورت لري. د تولید د لګښت په اساس دویم او دریم نسل مناسب دی. لومړي نسل د اوسني وخت په تجارتي بازار کې تر ټولو ډیر کاریدونکې او زیات دوام لرونکي دي مګر د لګښت له نظره ګراني دي.

مجموعي مقایسوي جدول ( د مقالې د جدولونو په اساس)

| ځانګړتیاوې | ۱م نسل (c-Si) | ۲م نسل (CdTe, CIGS, a-Si) | ۳م نسل (III-V, MJSC, PSC, DSSC, QDSC, CPV) | ۴م نسل (CNT, Graphene, هایبرډ) |
|---|---|---|---|---|
| بانډګیپ | ثابت ۱,۱ eV | نږدې مثالي ۱,۵–۱,۶ eV | څو بانډګیپ، تنظیمېدونکی | پراخ او تنظیمېدونکی |
| ضخامت | ۱۰۰-۳۰۰μm | ۱-۵μm | ۱۰۰nm–چند μm | ۱ μm۱۰۰–nm |
| اعظمي موثریت | ~۲۵٪ | ~۲۳٪ | تر ۴۷٪ پورې | ≤۲۵٪ هدف، خوناسم ثبات |
| لګښت/بازار | ټیټ لګښت، بازار کې ډیري دي. | ټیټ مواد، خود موادو محدودیت | ډیر لوړلګښت، ځانګړي کارونه | لا څېړنیز، صنعتي ثبات کم |
| BIPV او انعطاف | محدود | ښه (باریک، سپک) | PSC/ارګانیک کې ښه | ډیر لوړپوتنسیال |

## ۱۴. وړاندیزونه

١. ډیره ضروري ده چې په دریم او څلورم نسل فوتوولتائیک حجرو تمرکز وشي، ځکه چې دا تیکنالوژي لوړ مؤثریت، ټیټ تولیدي لګښت او د چاپېریال لپاره لږ خطر لري.

٢. باید د پیروسکایټ او هایبریډ حجرو د ثبات ستونزو حل ته لومړیتوب ورکړل شي، څو د بازار لپاره مناسبې شي.

٣. د لمریزې انرژي د محلي تولید د هڅولو لپاره د حکومتونو پالیسۍ باید پانګوالو ته اسانتیاوې برابرې کړي.

٤. پرمخ تللي هېوادونه دې د هغو سیمو له پاره چې بریښنا نه لري د لمریزي انرژي سیستمونه پراخ کړي.

۵. د تخنيکي روزنې او پوهاوي پروګرامونه دې رامنځته شي ترڅو د لمريزې انرژي د سيسټمونو ساتنه او مديريت مؤثر شي.

## ماخذونه

برهان آذرم. (۱۳۹۶). نسل های مختلف سلول های خورشیدی ومکانیسم عملکرد آن ها. نشریه مباحث برگزیده در انرژي, سال اول، شماره دوم

Ahuja, D. R., & Tatsutani, M. (2009). Sustainable energy for developing countries. SAPIENS, 2(1).

Almosni, S., Delamarre, A., Jehl, Z., Suchet, D., Cojocaru, L., Giteau, M., Behaghel, B., Julian, A., Ibrahim, C., Tatry, L., et al. (2018). Material challenges for solar cells in the twenty-first century: Directions in emerging technologies. Science and Technology of Advanced Materials, 19, 336–369.

Boyle, G. (2004). Renewable Energy: Power for a Sustainable Future (2nd ed.). Oxford University Press.

Crabtree, G. W.,&Lewis, N. S. (2018). Physics of sustainable energy, using energy efficiently and producing it renewably. In Proceedings of the AIP Conference, Berkeley, CA, USA.

Comprehensive study on photovoltaic cells' generation and factors affecting their performance: A review. [Journal Name]. https://doi.org/10.1007/s11356-022-20133-0

Dunlap-Shohl, W. A., Zhou, Y., Padture, N. P.,&Mitzi, D. B. (2019). Synthetic approaches for halide perovskite thin films. Chemical Reviews.

Ghosh, S.,&Yadav, R. (2021). Future of photovoltaic technologies: A comprehensive review. Sustainable Energy Technologies and Assessments, 47, 101410.

Geisz, J. F., France, R. M., Schulte, K. L., et al. (2020). Six-junction III–V solar cells with 47.1% conversion efficiency under 143 Suns concentration. Nature Energy, 5, 326–335. https://doi.org/10.1038/s41560-020-0598-5

Hasan, A., Sarwar, J., & Shah, A. H. (2018). Concentrated photovoltaic: A review of thermal aspects, challenges and opportunities. Renewable and Sustainable Energy Reviews, 94, 835–852. https://doi.org/10.1016/j.rser.2018.06.014

International Renewable Energy Agency. (2023). Snapshot of Global PV Markets 2023 (Report IEA-PVPS T1–44). IEA.

International Energy Agency. (2022). Renewables 2022:Analysis and forecast to 2027 (Annual report, Fuel report: December 2022). CC BY 4.0.

International Energy Agency. (2023). Renewable Energy Market Update - June 2023. Paris: IEA. CC BY 4.0. https://www.iea.org/reports/renewable-energy-market-update-june-2023

International Renewable Energy Agency, & International Labour Organization. (2023). Renewable energy and jobs: Annual review 2023. ISBN 978–92–9260–552–0.
International Renewable Energy Agency. (2024). Renewable energy statistics 2024. ISBN 978–92–9260–614–5.
International Renewable Energy Agency. (2023). Renewable energy statistics 2023. ISBN 978–92–9260–537–7.
Jiang, N., Zheng, Z., Qin, C., Liang, R., Li, Z., Ye, Z.,&Zhu, L. (2023). Enhanced power conversion efficiency of perovskite solar cells using dopant-free carbon nanotubes-Spiro-OMeTAD. Ceramics International, 49 (6), 9502–9511. https://doi.org/10.1016/j.ceramint.2022.11.117
Jackson, P., Wuerz, R., Hariskos, D., Lotter, E., Witte, W., & Powalla, M. (2016). Effects of heavy alkali elements in Cu(In, Ga)Se2 solar cells with efficiencies up to 22.6%. RRL Solar, 584–586.
Jeon, I., Shawky, A., et al. (2020). Carbon nanotubes to outperform metal electrodes in perovskite solar cells via dopant engineering and hole-selectivity enhancement. Journal of Materials Chemistry A, 8 (22), 11141–11147. https://doi.org/10.1039/D0TA03692G
Kuczyńska-Łażewska, A., Klugmann-Radziemska, E., & Witkowska, A. (2021). Recovery of valuable materials and methods for their management when recycling thin-film CdTe photovoltaic modules. Materials, 14, 7836.
Kowalski, M., Partyka, J., Węgierek, P., Żukowski, P., Komarov, F. F., Jurchenko, A. V., & Freik, D. (2005). Frequency-dependent annealing characteristics of the implant-isolated GaAs layers. Vacuum, 78, 311–317.
Lin, L., & Ravindra, N. M. (2020). Temperature dependence of CIGS and perovskite solar cell performance: An overview. SN Applied Sciences, 2, 1361. https://doi.org/10.1007/s42452-020-3169-2
Li, J., Aierken, A., Liu, Y., Zhuang, Y., et al. (2021). A brief review of high-efficiency III-V solar cells for space applications. Frontiers in Physics, 8, 631925. https://doi.org/10.3389/fphy.2020.631925
Lin, Z., Ye, M., & Wang, M. (2018). Multifunctional Photocatalytic Materials for Energy. https://doi.org/10.1016/C2016-0-01653-4
Mahmoudi, T., Wang, Y., & Hahn, Y. B. (2018). Graphene and its derivatives for solar cell applications. Nano Energy, 47, 51–65. https://doi.org/10.1016/j.nanoen.2018.02.047
Matsuyama, K., Nakamura, Y., Nishiwaki, T., Fujita, K.,&Maruyama, E. (2013). 24.7% efficiency solar cell. [Journal Name, Volume], 3193–3295.
Mamgai, M., Achaea, M., Hanuman Mad Haboob, Y., & Forouzanfar, M. (2012). A review of the comparison between traditional silicon solar cells and thin-film CdTe

solar cells. Proceedings of National Graduate Conference, Tenaga Nasional Universiti, 1–5.

Nakamura, M., Yamaguchi, K., Kimoto, Y., Yasaki, Y., Kato, T.,& Sugimoto, H. (2019). Cd-free Cu(In, Ga)(Se, S)2 thin-film solar cell with record efficiency of 23.35%. IEEE Journal of Photovoltaics, 9, 1863–1867.

Pastuszak, J., & Węgierek, P. (2022). Photovoltaic cell generations and current research directions for their development. Materials, 15 (5542). https://doi.org/10.3390/ma15165542

Pastuszak, J., & Węgierek, P. Faculty of Electrical Engineering and Computer Science, Lublin University of Technology. Correspondence: j.pastuszak@pollub.pl

Qian, L., Xie, Y., Zhang, S., & Zhang, J. (2020). Band engineering of carbon nanotubes for device applications. Matter, 3 (3), 664–695. https://doi.org/10.1016/j.matt.2020.06.014

Rehman, F., Syed, I. H., et al. (2023). Fourth-generation solar cells: A review. Energy Advances. https://doi.org/10.1039/D3YA00179BSharma, P., & Mishra, R. K. (2025).

Sharma, P.,&Mishra, R. K. (2025). Comprehensive study on photovoltaic cells' generation and factors affecting their performance: A review. [Journal Name].

Sharma, P.,&Goyal, P. (2020). Evolution of PV technology from conventional to nano-materials. Materials Today: Proceedings, 28, 1593–1597.

Scarpulla, M. A., McCandless, B., Phillips, A. B., & Yan, Y. (2023). CdTe-based thin film photovoltaics: Recent advances, current challenges and prospects. Solar Energy Materials and Solar Cells, 255, 112289. https://doi.org/10.1016/j.solmat.2023.112289Tsakalakos, L. (2010). Nanotechnology for photovoltaics. CRC Press.

Thakur, A. K., Singh, R., Gehlot, A., et al. (2022). Advancements in solar technologies for sustainable development of the agricultural sector in India: A comprehensive review on challenges and opportunities. Environmental Science and Pollution Research, 29, 43607–43634. https://doi.org/10.1007/s11356-022-20133-0.

Taguchi, M., Yano, A., & Tohoda, S. (2013). Record efficiency HIT solar cell on a thin silicon wafer. IEEE Journal of Photovoltaics, 4, 96–99.

Wu, C., Wang, K., Batmunkh, M., Bati, A. S., et al. (2020). Multifunctional nanostructured materials for next-generation photovoltaics. Nano Energy, 70, 104480. https://doi.org/10.1016/j.nanoen.2020.104480

Wang, S., Shi, J., Chen, H. H., Schafer, S. R., et al. (2017). Cooling design and evaluation for photovoltaic cells within constrained space in a CPV/CSP hybrid solar system. Applied Thermal Engineering, 110, 369–381. https://doi.org/10.1016/j.applthermaleng.2016.08.196

Wieland, L., Li, H., Rust, C., Chen, J., & Flavel, B. S. (2021). Carbon nanotubes for photovoltaics: From lab to industry. Advanced Energy Materials, 11, 2002880. https://doi.org/10.1002/aenm.202002880

Zhao, X., Xu, W., Wu, Y., et al. (2022). High-efficiency CNT-Si solar cells based on a collaborative system enabled by oxide penetration. Nano Research, 15, 2497–2504. https://doi.org/10.1007/s12274-021-3749-5

# Comparative Study of the Generations of Photovoltaic Solar Cells and Their Development Process

*Fadamohammad Mohammadi[1]*, Hamidullah Hodyal[2], Rahmatullah Liwal[3]*
*[1] Department of Physics, Faculty of Education, Ghazni University
[2] PhD Candidate, University of Science and Technology of China
[3] Faculty of Education, Paktika University
*Corresponding author email: fadamohammad1987@gmail.com*

## Abstract:

This study employs a qualitative research approach to compare different generations of photovoltaic (PV) solar cells. Due to the rising global demand for energy, solar power has gained significant importance as a sustainable, clean, and viable alternative to fossil fuels. Photovoltaic technology has become a leading method for electricity generation, with notable reductions in cost and improvements in efficiency in recent years. PV solar cells have evolved through four generations: 1. First-generation solar cells, including monocrystalline silicon, polycrystalline silicon, and gallium arsenide cells. 2. Second-generation solar cells, based on thin-film technologies such as amorphous silicon, cadmium telluride, and copper–indium–gallium–selenide (CIGS) cells. 3. Third-generation solar cells, consisting of advanced technologies such as perovskite cells, quantum dot cells, and multi-junction cells. 4. Fourth-generation hybrid solar cells. Due to decreasing production costs, continued technological expansion, and strong global market support, investment in solar energy is increasing rapidly. The study concludes that third-generation solar cells currently represent the most promising option, owing to their lower cost, higher efficiency, and superior optical and electronic properties.

***Keywords**: Perovskite cells, solar energy, photovoltaic cells, monocrystalline silicon, thin-film cells.*

# حل معادلات دیفرانسیل کسری از نوع مشتق کاجوگامپولا، با استفاده از روش تکرار تغییرات بهبود یافته

عباس پویا[1*]، محمدعلی زیرک[1]، سید عدنان موسوی[2]
۱. دیپارتمنت ریاضی، پوهنځی تعلیم و تربیه، پوهنتون دایکندی.
۲. دیپارتمنت علوم طبیعی، پوهنځی الکترومیخانیک ، پوهنتون تخنیکی غزنی.
Abbaspoya@dhei.edu.af

## خلاصه

